

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلامي لارښوونې

دتدريس القران راډيو داسلامي لارښوونو

دلړۍ څخه (دريم کتاب)دی

چې ټولني ته وړاندي کیږي

## تاليــف:

حاجي محمدځلاند

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دکتاب پیژندنه

دکتاب نوم : دحديثو مجمـــوعه

تالیف : حاجي محمدځلاند

کمپیوټري چاري : خپله لیکوال

خپرونکی : تدريس القران راډيو او مدرسه دارالسکون چمن

دلاسته راوړلو ځای : تدريس القران راډيو ،انټرنيټي پاني، مدرسه دارالسکون چمن

اړیکي : واټسـف ۰۷۰۵۵۵۸۰۷۶

بریښنالیک : ZALAND413 @GMAIL.COM

دبلاګ ادرس : ZALANDAFG.BLOGSPOT.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

(صفحه) ( عنوان)


12 ........................................................................ سریزه

14 ........................................................................ دکتاب دلیکلو لامل

15 ............................... دفاطمة الزهراء رض، دوفات دردونکې واقعه

17 ........................................................................ دکتاب ځانګړنې

17 ........................................ دښو خلګو ملګرتیا دخلاصون لارده

19 ........................ دکورڅخه دبهروتلو په وخت کې ښځې ته عطروهل

20 ............................................................ ترټولو غوره ذکراودعا

21 ........................................ دذکر کونکې اودذکر نه کونکې مثال

دالله "جل جلاله" په دربارکې صفاصورتونو او مالونو نه بلکه صفا زړونو

21 ............................................................ او اعمال قبول دي

(c) ketabton.com: The Digital Library




دالله‌جل‌جلاله په نامه کي شفاء ده ........................................ 22
هیڅکله پرخوړوعیب مه لګوه ................................................ 24
دالله دنامه څخه سوا(بغیر)په بل نامه قسم اخیستل رواندی ........... 24
دالله‌جل‌جلاله دځینوبندګانوپه مرګ عرش ښوریدلئ .................. 25
دبل مسلمان په غم‌خوشاله کیدل غم پرتاراګرځوي ..................... 26
ددعا دقبلیدولپاره ذکر .......................................................... 27
اودس دمومن لپاره دآخرت ښائست دی ..................................... 28
په تیاروکي جومات ته د تللو فضیلت ........................................ 29
ښه‌خبره هم صدقه ده ............................................................ 30
نبی اکرم "ﷺ" زیاته‌حیاء لرله ................................................. 31
دمجاهد مرسته مومن‌جنت لره رسوي ....................................... 31
دجمعي دورځي مسنون اعمال .................................................. 33
په سجده کی بازوګان له‌ځمکی پورته کول ................................... 34
دقرآن تلاوت کونکي اوعمل کونکي دالله(ج) دوستان دی ............... 35
دمسکین لپاره زیری .............................................................. 36
..که وس (توان) لری نکاح دي وکړي اوکه وس نلری روژه دي ونیسی 36
دقناعت فضیلت ................................................................... 37

(c) ketabton.com: The Digital Library




دطعام «ډوډی» خوړلو وروسته دعا ........................................ 38

پرنبی ﷺ درواغ تړل(حدیث دځان څخه جوړول) ..................... 39

دآذان غږ له موذن (آذان کوونکي) سره تکرارول ......................... 40

دخاوند اطاعت دجنت تللوسبب دی ........................................ 41

روژه دمغفرت سبب ده ................................................... 41

دقرآن شریف دیوه حرف تلاوت دلسونیکیو(دسلو)برابر دی ......... 42

الحدیث :(٢٩) ............................................................ 42

د یوچا دلمانځه اوږد والی او دخطبی لنډوالی د هغه د پوهې علامه ده په
دین کې ................................................................... 44

غیرِمسلم ته دسلام جواب په علیکم ورکوئ ............................. 45

پنځه وخته لمونځ گناهونه له مینځه وړي ................................. 45

روژه نیونکی دوه ځلی خوشحاله کیږي .................................... 46

هغه روژه ډیر فضیلت لري چي ډیر د الله (جل جلاله) ذِکرکی اوسي .. 47

دعِلم لاسته راوړلو لپاره تگ د الله (جل جلاله ) په لاره کي تگ دی. .. 48

د قیامت په ورځ به یوائحي روژتیان له ریان(دروازي)څخه جنت ته
داخلیږي ................................................................... 49

شرعي مسافرلره دروژي خوړلواجازه ده ................................... 50

(c) ketabton.com: The Digital Library



مومن به دوه ځلي له یوه ځایه دوکه نه خوري ................................ 50
داسي استغفارچي کبیره ګناهونه معافوي .................................... 51
آیاد مړی ولي د هغه له طرفه روژه نیوالای سي؟........................ 52
ترټولو ښه ژوند بایدلومړی دموراوبیادپلارسره وسي.................... 53
جنازه‌چي مو ولیدله د هغي په‌خاطر ورته ولاړیږئ........................ 54
روژه په‌خورمایاپه اوبوماتول سنت ده ..................................... 55
دروژه ماتي دعا................................................................ 56
ددنیامینه اوپه دنیاکي سیالي غرق کوونکې ده ............................ 56
په هیره روژه نه ماتیږي............................................................ 58
دحرام مال صدقه نه قبلیږي ...................................................... 58
څوک دي دځان نسبت وبل‌چا ته نه کوي.................................... 59
په روژه مات کي تلوارثواب لري ............................................. 60
مومن باید دښوخلګوسره مینه ولري .......................................... 61
دکونډې ښځي نکاح دهغي دخوښی پرته نه صحي کیږي ................ 62
چي مسلمان په مجلس کی وي هغه ته سلام ویلائی سی................. 63
دغائب سلام ته‌جواب ورکول لازمي دی ..................................... 64
ښځوته (که فتنه نه وي ) سلام ویل .......................................... 64

(c) ketabton.com: The Digital Library




دغم (پريشانی) دليري کولودعا .............................................. 65

ذکر کول اونه کول د ژوندي انسان او مړ انسان په مثال دی.............. 66

زغم لويه پهلواني ده ............................................................... 66

قرآن د قيامت په ورځ د (قرآن ) د محبت کوونکو شفاعت کوي....... 67

قرآن دترقی داراومداردی ............................................................. 68

دقرآن څخه خالي سينه دکنډوالي په شان وي چي ثوک پکښي نه اوسيږي
............................................................................................... 68

ترلمانځه ورسته ښکلی دعا............................................................ 69

دقيامت په ورځ به قلی د ښکرور څخه کسات اخلي.................... 70

له دنيا او د ښځو( له فتني)څخه وويريږی ....................................... 71

دروژی آخری لس شپی روښول سنت دي ........................................ 71

تهجداوهرنيک عمل په دوام سره غوره وي...................................... 72

ښه خوب دښه سړي دنبوت۴۶م جزء دی ...................................... 73

نبی ﷺ څکه سرداردِوجهان دی..................................................... 73

پرحالت کي تاسي په امام پسي لمونځ وکړی ستاسوپه نفع دی ......... 74

مړو ته ښکنځل مه کوئ دوی اوخدای(ج) سره پوهيږی................... 75

حياء ښائست دی اوبي شرمي بدرنګي ده........................................ 76

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څوک پوره مومن ندی چي ګاونډی (همسایه) یي له شر څخه په
امن کي نه وي ........................................ 77
دکامیابۍ دری اعمال ........................................ 77
مرګ دمومن لپاره راحت دی ........................................ 78
تلاوت په شوق اوهوسایۍ کي وکړئ ........................................ 79
قیامت پر مسلمانونه رائحي ........................................ 80
دغله لاس په غلاکي پریکول اسلامی حکم دی ........................................ 81
بهترین استغفار (سَیِّدُ الاستِغفَارِ) ........................................ 81
الله تعالی دمینی اوقربت قدردان دی ........................................ 83
دشهادت سوال اوغوښتنه هم کامیابي ده ........................................ 85
په قبرکي یوعمل په ښه درځي ........................................ 86
هغه مجلس سوء (بد) دی چي په هغه کي دالله(ج) ذِکر ونکړي او په خپل
پیغمبر (محمد ﷺ) درود ونه وایي ........................................ 86
خوړل اوڅیښل به انسان په ښي (راسته) لاس کوي ........................................ 88
دموراوپلارخدمت کله ناکله ترجهاد لامخکي سي ........................................ 88
دنبی کریم ﷺ دم پر مریض باندي ........................................ 89
په اسلام کي عربي پر عجمي تورپر سپین هیڅ فضیلت نلري ........................................ 90

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدقه مال نه کموي اومعافي عزت زیاتوي اوعاجزي انسان لوړه وي
91 ......................................................................
92 ........الله تعالی لره اولاد ثابتول اوترمرګ ورسته ژوندنه منل کفردی
تحیة المسجد(جومات ته دننوتلو)پرمهال سنت دی که مکروه وخت نه
93 ...................................................................... وو
94 ...................................................... مرګ غوښتل ناجائز دی
94 ................................................ دژوندڅخه مه ناهیلي کیږئ
هغه بنده ګان چي دالله(ج) په خاطر ییي یو بل سره مینه کړي دعرش
95 ...................................................... ترسیوري لاندي به وي
96 ........................................................اساني دالله (ج)خوښه ده
97 ..........................................................خدمت انسان له اوره ژغوري
98 ..........................................................نیک اعمال دجنت زیری دی
99 ......................دمائیګراوسهارترلمانځه ورسته نفل کول منع دي
100 .................................... دمدیني دوګړوسره دوکه ښه انجام نلري
101 ......ترشیدو(یابل غوړشي) ترخوړلوورسته خوله پریولل سنت ده
101 ......................................... دمازیګرلمونځ قضاکول بربادي ده
102 ......................................................ابوبکرځکه اول خلیفه سو
104 ............................................ دمسلمان عیب پټول دآخرت ذخیره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهر مست کوونکي توکي نشه حرامه ده ........................ 104
په هوسایۍ کي نفل کول غوره دي ........................ 105
هرهغه مشروب چي نشه ولري حرام دی ........................ 106
الله تعالی زړه اوعمل ته ګوري ........................ 107
ښه اخلاق لوی عبادت دی اودښوالخلاقو ډیرحقداره خپله میرمن ده 108
دنیکۍ لاره ښول هم نیکي ده ........................ 109
مومن هغه دی چي دبل په غم دردمن وي ........................ 109
دانسان دزوکړي مخکي رزق او اجل او عمل او سعادت یا هم د هغه
شقاوت لیکل کیږی ........................ 110
پرته له سخته ضرورت سوال اوګداګري ناروا ده ........................ 112
دخورو په سرکي که یي هیره وي نو په مابین کي یي کومه دعاويل کیږي؟
........................ 113
سپیني جامي اوسپین کفن سنت دی ........................ 115
په شپه کښي یوه شیبه (لحظه) شتون لري چي دعاپکښي قبلیږي ........................ 115
ژوند ترمرګ ښه دی دنیکۍ موقعه پکښي ممکنه ده ........................ 116
قرابت پالنه رزق اوعمر زیاتوي ........................ 117
صفونه برابرول دشیطان ملاماتول دی ........................ 118
قرآن مجید دتلاوت کوونکي شفاعت کوي ........................ 119

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه اخلاق لرونکی بهترين شخصيت دی................................ 120
سنت اونفل لمونځ په کورکي افضل دی................................ 120
بهتره زناني څوک دي.................................................. 121
دنيا دالله(ج) په درباركي قدرنلري.................................. 122
څوک ـچي خپل سر تر امام څخه مخکي پورته کوي ودي ويريږي داسي نه
چي سريې دخره سي.................................................... 122

# سريزه

## بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدالله الذي أرسل رسله بالبينات والهدى ليخرجوا لناس من الظلمات الى النور ويهدوهم الى صراط الله العزيز الحميد

والصلاة والسلام على افضل رسله ، واشرف دعاته ، سيدنا محمد صلى الله عليه وسلم الذي ختم الله به رسله ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولې ستاینې هغه ذات لره دې چې خپل استاذی یې دهدایت په ښکاره دلایلو سره راستولی دی ترڅو خلک دتروږمیو څخه درڼا لورې ته راوباسې اودوی ته دغالب اوستایل سوې الله جل جلاله لورې ته لاروښونه وکړې

درود اوسلام وایو دالله جل جلاله پرغوره رسول صلی الله علیه وسلم او په خورا اشرف داعې زموږ په سیدنا حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هغه کوم چې الله جل جلاله اخیرې نبې ګرځولی

هغه نبې چې کله یې زوی مبارک وفات کوی صحابو ددعا غوښتنه ځینې وکړه چې الله جل جلاله ژوند ورنصیب کړې مګر ده صلی الله علیه وسلم دا دعا دخپل اُمت لپاره پریښوده هغه نبې صلی الله علیه وسلم چې خپل قوم دخپل کلې کور نه هجرت ته ـمجبور کړ او ده هغو ته دهدایت غوښتنه وکړه

نوګران لوستونکې لومړئ ددې کتاب دمعلوماتو راټولونکې لیکوونکې ته د دالله جل جلاله څخه دنیکې دعا غوښتونکی سه اوبیا دځان اوټولو مسلمانانو لپاره دهدایت او ددغه کتاب دحدیثو دعملې کوونکو غوښتونکی سه جزاک الله خیرا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دكتاب دليكلو لامل

داچي الحمدالله ډير دحديثو كتابونه موجود دي مګر موږ وغوښتل چي نور هم اساني رامينځ ته سي اوبل دا چي زموږ په واسطه دين اودرسول الله صلی الله عليه وسلم حديثو ته خدمت وسي ترڅو موخپل دعلم حق اداكړی وي اوداخيرت دورځي لپاره مو دخلاصون زريعه سي اومحمد صلی الله عليه وسلم شفاعت مو په نصيب سي اوترمرګ وروسته راته صدقه جاريه وګرځي اوستاسو څخه موهم غوښتنه ده چي دنورو ورونو سره يې شريک كړی ترڅو تاسو هم دنيكيو څخه يې ځان برخمن كړئ

اوبل داچي زموږ نبي صلی الله عليه وسلم او كورنی ځومره تكليفونه دخپل امت لپاره ګاللي

چي لاندي يې موږ بيلګه راوړي جزاک الله خيرا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دفاطمة الزهراءرض، دوفات دردونكي واقعه

اى علي كله چه مادفن كوې نوزما په دغه غوټه كي يو كاغذ دى هغه به زماپه كفن كي راسره كښېږدي.خوكاغذ به نه ګورې

علي رضى الله عنه وويل په كاغذ كي څه دي ؟

دې وويل يو پټ راز پكي سته .

علي رضى الله عنه وويل چه درسول صلى الله عليه روى ته وګوره كه به مي نه خبروې

فاطمة رضى الله عنا وويل

كله چه رسول الله صلى الله عليه وسلم زمادنكاح اراده ستاسره وكړه نوماته يې وويل چه ته راضي يې چه د علي رضى الله عنهڅخه څلورسوه درهمه مهردرواخلم ماوويل په على راضي يم خو څلورسوه درهمه نه قبلوم

داوخت جبريل عليه السلام راغلى ويل يي ايې رسول الله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی وايي چه جنت اوهغه څه، چه په جنت کي دي دغه دفاطمې مهر دی اوزه يې ورکوم

ماوويل نه نه يم راضي

ده وويل نو نور څه غواړې؟

ماورته وويل يارسول الله ستادامت شفاعت غواړم سبحانه الله ځکه ستازړه په هغوی پسي زيات خفه دی

جبريل عليه السلام ولاړی وروسته يې يوکاغد راوړی چه پکي ليکلي وه چه دمحمد صلی الله عليه وسلم دامت شفاعت دفاطمې مهر کرزول سوی دی.اوکله چه دقيامت ورځ سي زه به وايم ای زماالله جل جلاله اي زمابادارہ دغه دامت دشفاعت کاغذدی زمادپلار دامت شفاعت قبول کړه

الله دي موږ ګنهګارانو ته ددغو پاکو اومقدسو هستيو شفاعت رانصيب کړي اوالله جل جلاله دي ددوی په برکت پرموږ عاجزانوورحميږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللهم علي سيدنا ومولانا محمد وعلي أهل بيته الكرام وسلم تسليما كثيرا في كل لمحة ونفس من الازل إلي الأبد والحمد لله رب العالمين

(مأخذ سلوة العارفين الإمام الغزالي)

# دكتاب ځانګړني

لومړی: ټول حاديث دي دويم : ټول دپښتو ژباړي سره دي

دريم : دټولو حاديثو مأخذ ليکل سوی ځلورم : ټول( ١٢٢) حاديث دي

**ډالی** : ټول امت مسلمه ته

## دښوخلکوملګرتيا دخلاصون لارده

الحديث :(١)

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ أَنَسٍ (رض): أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ النَّبِيَّ (ص) عَنِ السَّاعَةِ، فَقَالَ: مَتَى السَّاعَةُ؟قَالَ: «وَمَاذَا أَعْدَدْتَ لَهَا»؟ قَالَ: لا شَيْءَ إِلاَّ أَنِّي أُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ. فَقَالَ: «أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ». قَالَ أَنَسٌ: فَمَا فَرِحْنَا بِشَيْءٍ فَرَحَنَا بِقَوْلِ النَّبِيِّ (ص) : «أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ». قَالَ أَنَسٌ: فَأَنَا أُحِبُّ النَّبِيَّ (ص) وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ مَعَهُمْ بِحُبِّي إِيَّاهُمْ وَإِنْ لَمْ أَعْمَلْ بِمِثْلِ أَعْمَالِهِمْ

(۵جزءمخ۱۲)بخاری:رقم 3688

ژباړه: انس (رض) روایت کوي: یو سړی له رسول اکرم (ﷺ) څخه د قیامت په اړه سوال وکړ او داسي یې وویل: قیامت کله واقع کیږی؟

رسول اکرم (ﷺ) وفرمایل: هغه (قیامت) لپاره دي څه چمتوالی نیولی ؟

هغه (سړي) وویل : کوم چمتوالی مي ندی نیولی مګر له الله (ج) او رسول سره یې مینه لرم

آنحضرت (ﷺ) وفرمایل: ته به د قیامت په ورځ له هغه چاسره یې کوم چاسره چي مینه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



انس (رض) وايي:هيڅ شی هم دومره نه یو خوشحاله کړي لکه د
داچي ويی ويل : ته به له هغه چاسره يي چاسره چي مينه لري
انس (رض) ادامه ورکړه: زه له نبي اکرم(ﷺ)،ابوبکروعمررض
نو په اخلاص ، ټينګښت او وفا سره بايد ووايو او يقين ولرو
له الله (جل جلاله) او د هغه له رسول محمد (ﷺ) سره مينه
لرو او د دي ميني به حفاظت کوو.

# دکورڅخه دبهروتلوپه وخت کي ښځي ته عطروهل

الحديث : (٢)

عَنِ الْأَشْعَرِيِّ رَضِي اللّهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" أَيُّمَا امْرَأَةٍ اسْتَعْطَرَتْ، فَمَرَّتْ عَلَى قَوْمٍ لِيَجِدُوا مِنْ رِيحِهَا فَهِيَ زَانِيَةٌ

ابی موسی اشعری رضي الله عنه روايت کوي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:هره ښځه چي په ځان عطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووهي او د نارینه وو په ډله عبور وکړي داسي چي بوی يې د هغوی (نارينه وو) تر مشام (پزی)پوري ورسيږي هغه ﴿ ښځه ﴾ زنا كاره ده

(سنن ابوداود ۴۱۷۳
(سنن ترمذی۲۷۸۶
(سنن نسائی ۵۱۲۶
(سنن دارمی ۲۶۸۸رقم ج۳مخ۱۷۳۰)
(صحیح ابن خزيمه ۱۶۸۱
(صحیح ابن حبان ۴۴۲۴

# ترټولو غوره ذكر اودعا

الحدیث : (۳)

عَنْ جابربن عبدالله رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلِّ اللَّهُ عَلَيْهِ وَالسَّلَمِ يقول
افضل الذكر لااله الاالله وَأَفْضَلُ الدُّعَاءِ الحمدلله
صحيح سنن ترمذی/رقم3383ج۵مخ۳۲۵)صحيح سنن ابن ماجه/3800

(c) ketabton.com: The Digital Library



جابربن عبدالله رضی الله عنهما روایت کوی چي وامي وريدل رسول الله صل الله علیه والسلم وفرمایل:بهترین ذکر«لااله الاالله» دی اوبهترینه دعا"الحمدلله" ده

## دذکرکونکي اودذکرنه کونکي مثال

الحدیث :(۴)

عَنْ أَبِي مُوسَى (رض) قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ (ص): «مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ، وَالَّذِي لا يَذْكُرُ رَبَّهُ؛ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ

(بخاری:رقم6407ج۸مخ۸۶)

ژباړه : ابوموسي اشعري (رض) روایت کوي: نبي اکرم (ﷺ) وفرمایل: مثال د هغه چا چې د خپل پروردگار ذِکر کوي او د هغه چا چې د خپل پروردگار ذِکر نکوي داسي دی لکه د ژوندي او مړ.

## دالله "جل جلاله" په دربارکي صفاصورتونو او مالونو نه بلکه صفا زړونو اواعمال قبول دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحديث :(٦)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِي اللّهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

إِنَّ اللَّهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ، وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ

ابى هريره رضى الله عنه روايت كوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله "**جل جلاله**" ستاسو صورتونو او مالونو ته نه گوري بلكه ستاسو زړونو او ستاسو اعمالو ته گوري

(صحيح مسلم (رقم٢٥٦٤ ج٤مخ١٩٧٩)

سنن ابن ماجه ٤١٤٣

صحيح ابن حبان ٣٩٤

## دالله جل جلاله په نامه كي شفاء ده

الحديث : (٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نافع بن جبير رضی الله عنه وايي

عَنْ عُثْمَانَ بنِ أَبِي العَاصِ الثَّقَفِيِّ، أنَّهُ شَكَا إلى رَسولِ » اللهِ صَلَّى اللَّهُ عليه وسلَّمَ وَجَعًا يَجِدُهُ في جَسَدِهِ مُنْذُ أَسْلَمَ فَقالَ له رَسولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عليه وسلَّمَ: ضَعْ يَدَكَ علَى الذي تَأَلَّمَ مِن جَسَدِكَ، وَقُلْ باسْمِ اللهِ ثَلَاثًا، وَقُلْ سَبْعَ مَرَّاتٍ أَعُوذُ باللَّهِ وَقُدْرَتِهِ مِن شَرِّ ما أَجِدُ وَأُحَاذِرُ

يعني: «ابو عبد الله عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه له يو مريضی څخه چي په وجود کښي يې لرله رسول الله ته يې ورڅخه شکايت وکړ،

رسول الله (ﷺ) ورته وويل : لاس دي د وجود په کوم ځای چي درد کوي کښيږده
③ځلي بسم الله .... ووايه
او وروسته ⑦ځلي داهم ووايه:
أَعُوذُ باللَّهِ وَقُدْرَتِهِ مِن شَرِّ ما أَجِدُ وَأُحَاذِرُ
(صحيح مسلم رقم۲۲۰۲ج۴مخ۱۷۲۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هيڅکله پرخوړوعيب مه لګوه

الحديث : (٨)

عن أبي هُريرة (رض)قال: ما عَابَ رسُولُ اللّه ﷺ طَعَاماً قَطُّ، إِن اشْتَهاه أَكَلَهُ، وإِنْ كَرِهَهُ تَرَكَهُ

متفقٌ عليه/(مسلم - رقم2064ج٣مخ١٦٣٢)

له ابوهريره ﴿رض﴾ روايت دی پيغمبرﷺ هيڅکله له کوم خوراک څخه عيب بيان نکړ، که به يې﴿خوراک﴾ خوښ وو خوړی به يې او که به يې خوراک نه وو خوښ هغه به يې پريښودی او نه به يې خوړی

# دالله دنامه څخه سوا(بغير)په بل نامه قسم اخيستل رواندی

الحديث : (٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَعَنْهُ (رض) عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ: «أَلا مَنْ كَانَ حَالِفًا فَلا يَحْلِفْ إِلاَّ بِاللَّهِ». فَكَانَتْ قُرَيْشٌ تَحْلِفُ بِآبَائِهَا، فَقَالَ:«لاَ تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ

(بخاری رقم3836ج۵مخ۴۲)

ژباړه: عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چي نبي اکرم (ﷺ) وفرمایل: آګاه اوسئ هر څوک چي غواړي قَسم یاد کړي یوائي د الله "جل جلاله" په نوم دي قَسم یاد کړي راوي (روایت کوونکی) وايي : قریش خلګو به د پلرونو په نوم قِسم یادول ، رسول الله "ﷺ" ورته وفرمایل: د پلرونو په نومونو قسم مه یادوئ

**مهم ټکی** : په عامه اصطلاح موږ پښتانه وایو فلاني قسم وخوړی ، قسم خوړل کیږي نه یادول کیږي
صلی الله علی خاتم الانبیاء .

# دالله جل جلاله دځینو بندګانو په مرګ عرش ښوریدلئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحديث : (۱۰)

عَنْ جَابِرٍ(رض) قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ (ص): «اهْتَزَّ عَرْشُ الرَّحْمَنِ لِمَوْتِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ

(ج۵مخ۳۴)بخارى رقم الحديث3803

ژباړه: جابر(رض) څخه روايت دی: نبي اكرم (ﷺ) وفرمايل: « د رحمن (الله) عرش د سعد بن معاذ په مرگ ولرزيده .

# دبل مسلمان په غم خوشاله کیدل غم پرتا راګرځوي

الحديث : (۱۱)

وعنْ وَاثِلةَ بنِ الأسْقَعِ "رض" قالَ: قال رسُولُ اللَّهِ ﴿ﷺ﴾: «لا تُظْهِرِ الشَّمَاتَة لأخيك فَيرْحمْهُ اللَّهُ وَيبتَلِيك

(c) ketabton.com: The Digital Library



رواه الترمذي وقال: حديث حسنٌ رقم
(الحديث٢٥٠٦ج٤مخ٢٤٣)

ژبـاړه :« له واثله بن اسقع (رض)څخه روايت دی
رسول الله "ﷺ" وفرمايل : خپل (ديني ، نسبي ) ورور
باندي ( په کومو ستونځو او مصيبتونه چي و هغه ته )
رسيدلي د خوشحالی اظهار مه ورباندي کوه الله "ج" به
په هغه رحم وکړي او تا به ورباندي مبتلاکړي.

## ددعا دقبليدولپاره ذكر

الحديث : (١٢)

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ
اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
مَنْ تَعَارَّ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ حِينَ يَسْتَيْقِظ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ،
وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ
شَيْءٍ قَدِيرٌ، سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ،
وَاللَّهُ أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ. ثُمَّ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَعَا : رَبِّ اغْفِرْلِي. غُفِرَلَهُ دَعَا اسْتُجِيبَ لَهُ، فَإِنْ قَامَ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ صَلَّى قُبِلَتْ صَلَاتُهُ

عباده بن صامت رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

هر څوک چي بعد له شپي ویښ سي او ووایي

لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَه ،، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ ثُمَّ دَعَا رَبِّ اغْفِرْلِي

که مغفرت وغواړي بخښل کیږي وروسته دعا وکړي استجاب کیږي او که اودس وکړي (وروسته) لمونځ ادا کړي قبول کیږي

(صحیح بخاری (رقم الحدیث۱۱۵۴ج۲مخ۵۳)

(سنن ابوداود (۵۰۶۰

(سنن ترمذی (۳۴۱۴

(سنن ابن ماجه (۳۸۷۸

(سنن دارمی ( ۲۷۲۹

# اودس دمومن لپاره دآخرت بنائست دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحديث : (۱۳)

وعن ابوهريره"رض" قَالَ: سَمِعْت خليلیﷺيقُول: تَبْلُغُالحِليةمِنَالمؤمِنحَيْث يبْلُغُ الوضوءُ

(رواه مسلم رقم الحديث 250ج۱مخ۲۱۹)

ژباړه :« ابوهريره "رض" وايي چي له محبوب ملگريﷺ څخه ما واوريدل ويل يې: «د مومن( جنتي ) زينت ( سينګار او ښايست ) ترهغه ځايه دی ترکوم ځايه چي د اوداسه اوبه رسيږي .

## په تياروکي جومات ته د تللو فضيلت

الحديث : (۱۴)

وعن بُرَيدَةَ «رض» عن النَّبِيِّ ﴿ﷺ﴾ قال: «بشِّروا المَشَّائِينَ في الظُّلَمِ إلى المسَاجِدِ بِالنور التَّامِّ يَوْمَ القِيامَةِ

(رواه أبوداود [(رقم الحديث۵۶۱ج۱مخ۱۵۴)] / ترمذی (۲۳۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:« له بریده «رض» څخه روایت دی نبی اکرم ﴿ﷺ﴾
وفرمایل: د قیامت ورځ په کامل نور باندي هغو کسانو ته
زیری ورکړی چي په تیارو کښي د جوماتونو په لور روان وي

﴿ ملگرو څوک چي له الله (ج) او د هغه له رسول (ﷺ) سره
رښتيني مينه لري حتی د شپي محالي هم جومات (مسجد) ته
ځان رسوي او داسي کسان هم په تولنه کښي سته چي شپه
خو ليري خبره ده د ورځي هم جومات ته د تللو لپاره يي پښي
مړي وي

## ښه‌خبره هم صدقه ده

الحديث : (١٥)

عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلِّ اللَّهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ يَقُولُ «اتَّقُوا النارولو بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا
فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ
صحيح مسلم /رقم الحديث ١٠١٦ج٢مخ٧٠۴) ودرصحيح
بخاری/۶۵۳۹بهمين معنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدي بن حاتم وايي له پيغمبر(ﷺ) څخه مي واوريدل فرمايل يې : خپل ځانونه د جهنم له اور څخه ليري وساتئ كه څه هم په صدقه وركولو د يوې خُرما وي كه چيرته داهم( د يوي خرما صدقه وركول) تاسو ته مقدور نه وو په نيكي خبري سره ځان ته له اوره نجات وركړئ .

## نبی اکرم "ﷺ" زياته حياء لرله

الحديث : (١٦)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ (رض) قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ (ص) أَشَدَّ حَيَاءً مِنَ الْعَذْرَاءِ فِي خِدْرِهَا

(بخاری:3562ج۴مخ۱۹۰)

ژباړه: ابوسعيد خدري (رض) وايي: ترهغي انجلي چي په يوه پرده كښې اوسيږي نبی اکرم "ﷺ" (نسبت و هغي ته) زياته حياء لرله

يعنی : د آنحضرت "ﷺ" حياء بيحده زياته وه.

## دمجاهد مرسته مومن جنت لره رسوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحديث : (١٧)

عَنِ الزُّبَيْرِ رَضِي اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ

كَانَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ دِرْعَانِ، فَنَهَضَ إِلَى صَخْرَةٍ، فَلَمْ يَسْتَطِعْ، فَأَقْعَدَ تَحْتَهُ طَلْحَةَ، فَصَعِدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى اسْتَوَى عَلَى الصَّخْرَةِ، فَقَالَ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

أَوْجَبَ طَلْحَةُ

زبیر بن عوام رضی الله تعالی عنه روایت کوي چي
رسول الله صلی الله علیه وسلم د احد په غزا کښي دوي زغري اغوستي وي نو کله چي غوښتل تر یوې تختي تیږي( ډبري )پورته سي نونه وتوانیدی نو طلحه راغلی لاندي کښیناستی او نبی کرم "ﷺ" د هغه د اوږو په سر پورته وختی تر دې چي مکمل د تیږې سرته ورسیدی
بناءً رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل
طلحه جنت د ځان لپاره واجب وگرځوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(سنن ترمذی (۱۶۹۲ج۳مخ۲۵۳)

(صحیح ابن حبان (۶۹۷۹

(مسند احمد (۱۴۱۷

(مسند بزار (۹۷۲

(مسند ابویعلی (۶۷۰

(مستدرک حاکم ( ۵۶۵۶

## دجمعي دورځي مسنون اعمال

الحدیث : (۱۸)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ (رض) قَالَ: أَشْهَدُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ (ﷺ) قَالَ: «الْغُسْلُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ، وَأَنْ يَسْتَنَّ، وَأَنْ يَمَسَّ طِيبًا إِنْ وَجَدَ

(بخاری: 880ج۲مخ۵)

ژباړه: ابوسعید خدري (رض) وايي شهادت ورکوم په دي چي رسول الله «ﷺ» وفرمایل:« د جمعی په ورځ غسل او مسواک کارول په هر بالغ او مسلمان باندی واجب(ثابت) دی(مرقاة) او

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یی خوشبويي موادو ته لاسرسی درلود نو استفاده دي تري وکړي .

## په سجده کي بازوګان له ځمکي پورته کول

الحديث : (١٩)

عَنِ الْبَرَاءِ رَضِي اللّهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

إِذَا سَجَدْتَ فَضَعْ كَفَّيْكَ، وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ

براء بن عازب رضی الله تعالی عنهما وايي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل

د سجدې په وخت کی د لاسونو ورغوي په ځمکه کيږده او څنګلي دي پورته نيسه

(صحيح مسلم (٤٩٤ج١مخ٣٥٧)

(صحيح ابن خزيمه (٦٥٦

(صحيح ابن حبان (١٩١٦

(مسند احمد (١٨٤٩١)( ١٨٥٩٩

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دقرآن تلاوت كونكي اوعمل كونكي دالله(ج) دوستان دي

الحديث : (٢٠)

عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «إِنَّ للَّهَ عَزَّ وَجَلَّ أَهْلِيْنِ مِنَ النَّاسِ قَالَ قِيلَ مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ أَهْلُ الْقِرَانِ هُمْ أَهْلُ اللّه وَ خَاصَّتُهُ

(سنن ابن ماجه (رقم الحديث1/78،ش215)مسند (احمد(3/127ش12301

انس بن مالک رضی الله عنه وايي: چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: پوه سی چي الله "جل جلاله" ځان لپاره له خلګو څخه دوستان لري ، وه ويل سول اې د الله (ج) رسوله "ﷺ" هغه کوم کسان دي ؟

مبارک "ﷺ" وفرمايل : هغوی چي پرله پسي له قرآنه سره انس لري هغوی د الله تعالی دوستان او خاصان دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمسكين لپاره زيرى

الحديث : (٢١)

وعن أبي هريرة (رض) قال: قال رسولُ اللّٰه(ص): »
«يَدْخُلُ الفُقَراءُ الجَنَّةَ قَبْلَ الأَغْنِيَاءِ بِخَمْسِمائَةِ عَامٍ

(رواه الترمذي وقال: حديث صحيح رقم الحديث2353ج٤مخ١٥٦)

ترجمه: « له ابوهريره «رض» څخه روايت دى چي پيغمبر ﴿ص﴾ وفرمايل: «فقرا به تر مالدارانو پنځه سوه کاله مخکي جنت ته داخليږي.

## که وس (توان) لري نکاح دي وکړي اوکه وس نلري روژه دي ونيسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحديث : (۲۲)

دنكاح فضايل :

عَنْ عبدالله بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّي اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنْ اسْتَطَاعَ متكم الْبَاءِ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَ أَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَ مَنْ لَمْ يَسْتَطِيعُ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ

متفق عليه : صحيح بخارى/۱۹۰۵،(صحيح مسلم/۱۴۰۰، ج۲مخ۱۰۱۸)

عبدلله بن مسعود (رضى الله عنه)روايت كوي،رسول الله(صلى الله عليه وسلم) وفرمايل : اى ځوانانو له تاسو څخه چي هر يو وس (توان) لرى مزدوج دي شي ځكه چي نكاح سترگي له حرام څخه بهتر ساتي او د عورت د حفاظت لپاره بهترينه لار ده او كه هرڅوک د واده كولو(ازدواج) وس نلري روژه دي ونيسي ځكه چي روژه د جنسي طاقت په كمښت کی خاص تاثير لري .

## دقناعت فضيلت

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحديث :(۲۳)

وعن أبي مُحَمَّد فَضَالَةَ بنِ عُبَيْد الأَنْصَارِيِّ "رض" أَنَّهُ سَمِعَ رسول اللَّه (ﷺ) يَقُولُ: «طُوبَى لِمَنْ هُدِيَ إِلى الإِسلام، وَكَانَ عَيْشهُ كَفَافاً، وَقَنِعَ

(رواه الترمذي وقال: حديثٌ حسن صحيح 2349ج۴/۱۵۴)

ابومحمد فضاله بن عبيد انصارى "رض" روايت كوي چي له پيغمبر محمد (ﷺ) څخه يې اوريدلي فرمايل يې : خوشحاله دى د هغه چا په حال چي اسلام (دين) ته هدايت سو او د ژوند ضروريات يې كافي او دى ( ورته ) قانع واوسي .

## دطعام «ډوډى»خوړلو وروسته دعا

الحديث : (۲۴)

وعن مُعَاذِ بن أَنسٍ "رض" قَالَ: قال رسُولُ اللَّه (ﷺ): منْ أَكلَ طَعَاماً فقال: الحَمْدُ للَّهِ الذى أَطْعَمَنى هذا، وَرَزَقْنِيهِ مِنْ غيرِ حَوْلٍ مِنِّى وَلا قُوَّةٍ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ابوداود [(۴۰۲۳ج۴مخ۴۲)] ترمذی (۳۴۵۴)

ژباړه : « له معاذبن انس « رض » څخه روایت دی چي پيغمبر محمد ﴿ﷺ﴾ وفرمایل : «هر څوک چي طعام «ډوډی» وخوري او وروسته له خوړلو يې ووايي: «الحَمْدُ للَّهِ الذی أَطْعَمَنی هذا، وَرَزَقْنِيهِ مِنْ غيرِ حَوْلٍ مِنِّی وَلا قُوَّةٍ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»د تیر وخت گناهونه يې معاف کيږی.

## پرنبی ﷺ درواغ تړل(حدیث دځان څخه جوړول)

الحديث : (۲۵)

رسول الله ﷺ فرمایی
مَنْ يَقُلْ عَلَيَّ مَا لَمْ أَقُلْ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چي کومه خبره په ما پسي وتړي او ما هغه نه وي ويلي
بايد خپل ځای په اور کښي آماده کړي
(بخاری/رقم الحديث109ج١مخ٣٣)

هرانسان بايد ددي عمل څخه ځان وساتي استغفرالله
.

# دآذان غږ له موذن (آذان کوونکي) سره تکرار ول

الحديث : (٢٦)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ (رض): أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ (ﷺ) قَالَ:
«إِذَا سَمِعْتُمُ النِّدَاءَ، فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ الْمُؤَذِّنُ

(بخاری:611)ج١/١٢٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ابوسعيد خدري (رض) روايت كوي: رسول اكرم (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل: « كله چي مو د آذان غږ واوريدی د آذان غږ له موذن ( آذان كوونكی) سره تكرار كړئ.

## دخاوند اطاعت دجنت تللوسبب دی

الحديث : (٢٧)

وعن أُمِّ سلمةَ﴿رض﴾ قالت: قال رسول اللّه ﴿ﷺ﴾:

أَيُّما امرأَةٍ ماتَتْ وزوْجُهَا عنها راضٍ دخَلَتِ الجَنَّةَ

رواه الترمذي وقال حديث حسن ( رقم

(الحديث1161ج٢/مخ٤٥٧)

له ام المؤمنين امسلمه﴿رض﴾څخه روايت دی چي نبی كريم ﴿صلی الله عليه وسلم﴾ وفرمايل: «هره ښځه چي په داسي حال كی وفات سي چي خاوند يې ورڅخه راضي وي ( نو) جنت ته ځي.

## روژه دمغفرت سبب ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحدیث : (٢٨)

عنْ أَبي هُريرةَ (رض) أَنَّ رَسُول اللَّهِ ﴿ص﴾ قالَ: «منْ قام رَمَضَانَ إِيماناً واحْتِساباً غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ

متفقٌ علیه / مسلم رقم الحدیث759ج١مخ٥٢٣)

له ابوهريره ﴿رض﴾ څخه روايت دی چي پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هرڅوک چي د ايمان او اخلاص له مخي (په نيت) او تمه د ثواب په رمضان کي په عبادت ودريږي (قيام وکړي) د هغه تير گناهونه ورته بخښل کيږي .

# دقرآن شریف دیوه حرف تلاوت دلسونیکیو(دسلو)برابر دی

الحدیث :(٢٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ عبدالله بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّي اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كتاب اللَّهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةً وَ الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا لاَ أَقُولُ أَلَمْ حَرْفٌ وَ لكن أَلْفَ حَرْفٍ وَ لَامٌ حَرْفٍ وَ مِيمٌ حَرْفٍ». قَالَ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ

سنن ترمذی/2910،ج۵مخ۲۵) تخريج الطحاوية (139) و (المشكاة (2137

عبدالله بن مسعود روايت کوي چي رسول الله ﴿صلى الله عليه وسلم ﴾ وفرمايل : هر څوک چي يوه آيه د قرآن ووايي او د هغه په بدله کی ورته نيکی ورکول کيږي او هغه نيکي لس برابره کيږي زه نه وايم چي ( الم) يو حرف ده بلکه الف يو حرف لام يو حرف او ميم يو حرف دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دیوچا د لمانځه اوږد والی او دخطبي لنډوالی د هغه د پوهي علامه ده په دین کي

الحديث : (٣٠)

عن أبي الْيَقظان عَمَّار بن ياسر (رض) قال: سمِعْتُ رسول اللَّه ﷺ يقول: إنَّ طُولَ صلاةِ الرَّجُلِ، وَقِصر خُطْبِتِه، مِئنَّةٌ مِنْ فقهِهِ. فَأَطِيلوا الصَّلاةَ،وَأَقْصِروا الخُطْبَةَ

(رواه مسلم رقم الحديث869ج٢مخ٥٩٤)

له ابی‌الیقظان عماربن یاسر "رض" څخه روایت دی چي له رسول الله ﴿ﷺ﴾ څخه مي واوریدل فرمایل یې: د یو چا د لمانځه اوږد والی او د خطبي لنډوالی د هغه د پوهي علامه ده په دین کي نو لمونځ اوږد کړئ او خطبه لنډه کړئ .
شرح: د لمانځه اوږدوالی یعنی ډیر قرآئت بعد له سوره فاتحه هم داسي رکوع اوسجدې اوږدوالی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غیرِمسلم ته دسلام جواب په علیکم ورکوئ

الحديث : (٣١)

وعن أنس ٍ "رض " قال: قال رسول الله (صلى الله » عليه وسلم): «إذَا سَلَّمَ عَلَيكُم أهلُ الكتاب فَقُولُوا: وعَلَيْكُمْ .

متفق عليه (مسلم رقم الحديث2163ج۴مخ۴/١٧٠٥)

له انس (رض) څخه روایت دی چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هر کله چي اهل کتاب په تاسو سلام وکړ تاسو ووایاست وعلیکم .

## پنځه وخته لمونځ گناهونه له مینځه وړي

الحديث : (٣٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (رض): أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ (صلى الله عليه وسلم) يَقُولُ: «أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهَرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسًا، مَا تَقُولُ: ذَلِكَ يُبْقِي مِنْ دَرَنِهِ»؟ قَالُوا: لا يُبْقِي مِنْ دَرَنِهِ شَيْئًا، قَالَ: «فَذَلِكَ مِثْلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللَّهُ بِهِ الْخَطَايَا

(بخاری:رقم الحدیث528)ج۱مخ۱۱۲)

ژباړه : ابوهريره "رض" روايت كوي چي رسول الله ( صلى الله عليه وسلم) وفرمايل:« كه د چا د كور مقابل ته د اوبو نهر وي او هغه د ورځي پنځه ځلي هلته غسل وكړي آيا ستاسو په نظر د هغه په بدن به خيرن والى پاتي سي»؟

اصحاب كرامو وويل : نه

رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: پنځه وخته لمونځ همداسي دى . يعني الله تعالى د هغه په وسيله گناهونه له مينځه وړي .

## روژه نيونكى دوه ځلى خوشحاله كيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحديث : (۳۳)

رسول اللهﷺ فرمايي

روژه لرونکی دوه ځلي خوشحاله کیږي

(۱) : کله چي افطار کوي

(۲)

او کله چي له پروردګار سره ملاقات وکړي له خپلي روژي څخه خوشحاله کیږي

قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ يَفْرَحُهُمَا إِذَا أَفْطَرَ فَرِحَ وَإِذَا لَقِيَ رَبَّهُ فَرِحَ بِصَوْمِهِ

(بخارى:رقم الحديث1904ج۳مخ۲۸)

## هغه روژه ډیر فضیلت لري چي ډیر د الله (جل جلاله) ذِکرکی اوسي

الحديث : (۳۴)

له پیغمبرﷺ څخه پوښتنه وشوه چي

أَيُّ الصَّائِمِينَ أَعْظَمُ أَجْرًا؟ قَالَ: «أَكْثَرُهُمْ لِلَّهِ ذِكْرًا

(c) ketabton.com: The Digital Library



له روژه لرونکو څخه کوم يو د ډير ثواب ( اجر) خاوندان دي؟ ويې فرمايل: « هغه کسان چي ډير د الله ( ج) ذِکر کوي رواه احمد: ر1قم الحديث5614ج۲۴/مخ۳۸۰).

# د علِم لاسته راوړلو لپاره تګ د الله (جل جلاله ) په لاره کي تګ دی.

الحديث :(۳۵)

وَعَنْ أنسٍ، "رض" قالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ، ﴿ﷺ﴾: «مَن خرَجَ في طَلَبِ العِلمِ، فهو في سَبيلِ اللَّهِ حتى يرجِعَ

رواهُ الترْمِذيُّ وقال: حديثٌ حَسنٌ (رقم (الحديث۲۴۴۷ج۴مخ۳۲۵)

ژباړه:« له انس (رض) څخه روايت دی چي پيغمبر﴿صلی الله عليه وسلم﴾ وفرمايل:« څوک چي د عِلم لاسته راوړلو لپاره بهر ووځي تر څو چي بيرته راستنيږي د الله ( جل جلاله ) په لاره کی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قیامت په ورځ به یوائحي روژتیان له ریان(دروازي)څخه جنت ته داخلیږي

الحديث : (٣٦)

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ «إِنَّ فِي الجنه بَاباً يُقَالُ لَهُ الريا يَدْخُلُ مِنْهُ الصَّائِمُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يَدْخُلُ مَعَهُمْ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ يُقَالُ أَيْنَ الصَّائِمُونَ فَيَدُ خَلَوْنَ مِنْهُ فَإِذَا دَخَلَ أَجْرَهُمْ أَغْلَقَ فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ أَحَدٌ

(صحيح بخاري/١٧٦٣ صحيح مسلم رقم الحديث١١٥٢ج٢مخ٨٠٨)

سهل بن سعد وايې - رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمایل: جنت یوه دروازه لري چي ریان ورته وايې د قیامت په ورځ به یوائي روژاتیان له هغه څخه جنت ته داخلیږي او پرته له هغوی بل څوک نشي ورداخلیدلی وایې روژتیان چیرته دي ؟ (نو) روژتیان پورته کیږي او ورداخلیږي بعد له دي چي آخرین روژاتي ورداخل سي هغه دروازه بندیږي او بل څوک نه ورداخلیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شرعي مسافرلره دروژي خوړلو اجازه ده

الحديث : (٣٧)

عنْ عَائِشَةَ رَضِي اللَّه عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّ حَمْزَةَ بْنَ عَمْرٍو الأَسْلَمِيَّ قَالَ لِلنَّبِيِّ ﷺ : أَأَصُومُ فِي السَّفَرِ؟ وَكَانَ كَثِيرَ الصِّيَامِ فَقَالَ: «إِنْ شِئْتَ فَصُمْ وَإِنْ شِئْتَ فَأَفْطِرْ .

(صحيح‌بخاری رقم الحديث1943ج٣ج٣٣)

عايشه رضي‌الله‌عنها دنبي اكرم ﷺ مباركه ميرمن وايي: حمزه بن عمرو اسلمي زياته روژه نيوله له رسول الله ﷺ څخه يي وپوښتل: آيا په سفر كی روژه ونيسم؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: كه دي وغوښتل روژه ونيسه او كه دي ونه غوښتل مه يي نيسه .

# مومن به دوه ځلي له يوه ځايه دوکه نه خوري

الحديث : (٣٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وعَنْ أبي هُرِيْرةَ ﴿رض﴾ أنَّ النبي ﴿ﷺ﴾ قَال: «لا يُلْدغُ المُؤمِنُ مِنْ جُحْرٍ مرَّتَيْنِ

﴿متفقٌ عليه﴾(صحيح البخارى ج٣/مخ٣٣)رقم الحديث٦١٣٣)

ژباړه له ابوهريره ﴿رض﴾ څخه روايت دى چي پيغمبر ﴿صلى الله عليه وسلم﴾ وفرمايل : مومن له يوه سوري څخه دوه ځلي نه چيچل کيږي.

## داسي استغفارچي كبيره ګناهونه معافوي

الحديث : (٣٩)

وعنِ ابْنِ مَسْعُودٍ (رض) قال: قال رسُولُ اللّه (ﷺ): «منْ قال: أَسْتَغْفِرُ اللّه الذي لا إِلَهَ إِلاَّ هُو الحيَّ الْقَيُّومَ وأَتُوبُ إِلَيهِ، غُفِرَتْ ذُنُوبُهُ وإِنْ كَانَ قَدْ فَرَّ مِنَ الزَّحْفِ .

ابوداود [(١٥١٧)] و الترمذى [(٣٥٧٢)] و الحاكم (١/٥١١

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ابن مسعود (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل: هرڅوک چي ووايي :

أَسْتَغْفِرُ اللَّه الذى لا إِلَهَ إِلاَّ هُو الحى الْقَيومَ وأَتُوبُ إِلَيهِ:

د مغفرت طلب کوم له هغه خدای څخه چي بغیر له هغه هیڅ خدای نشته ، ژوندی او تل پاتي دی او د هغه په لور توبه کوم گناهونه يي بخښل کیږي که څه هم له جنګه تښتیدلی وي .

## آيا د مړه ولي د هغه له طرفه روژه نيولای سي؟

الحديث : (۴۰)

عنْ عَائِشَةَ رَضِي اللَّه عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ

(صحيح بخارى رقم الحديث1952ج۳مخ۳۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



له عايشه رضي الله‌عنها څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هرڅوک چي وفات سي او روژه د هغه په ذمه پوري باقي وي د هغه ولي دي د هغه له طرفه روژه ونيسي .

يادونه : زموږمذهب دادی چي دمړ قريب دمړ دروژي فديه ورکولائی سي پرځای يې روژې نسي نيولائی ددي حديث ځواب اوزموږدلائل په اوږدوکتابوکي دي(عمدة القاری ج۱۱مخ۵۷ وګوره)

# ترتولوښه ژوند بايدلومړی دموراوبيادپلارسره وسي

الحديث : (۴۱)

عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ حَيْدَةَ الْقُشَيْرِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ أَبَرُّ قَالَ « أُمَّک » قَالَ قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ « أُمَّک » قَالَ قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ « أُمَّک » قَالَ قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ «ثُمَّ أَبَاک ثُمَّ الأَقْرَبُ فَالأَقْرَبُ.

(الترمذی /۱۸۹۷ج۳مخ۳۷۳)

معاويه بن حيده قشيري‌روايت کوي چي ومي ويل : اې دالله (ج) رسوله له چاسره نيکي وکړم ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارک ﴿صلی الله علیه وسلم﴾ وفرمایل:ستا مور
وایي ومي ویل : وروسته له هغې ؟
مبارک ﴿صلی الله علیه وسلم ﴾ وفرمایل : ستا مور
وایي ومي ویل : وروسته له هغې؟
مبارک ﴿صلی الله علیه وسلم ﴾ وفرمایل : ستا مور
وایي ومي ویل : وروسته له هغې ؟
مبارک ﴿صلی الله علیه وسلم﴾ وفرمایل : ستا پلار او بعد له هغه ، هغه خپلوان چي په خپلوي کښي تاته درنژدي دی .

# جنازه‌چي مو ولیدله د هغي په‌خاطر ورته ولاړیږئ

الحدیث : (۴۲)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ " رض" قَالَ: مَرَّتْ جَنَازَةٌ، فَقَامَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ (صلی الله علیه وسلم) وَقُمْنَا مَعَهُ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهَا يَهُودِيَّةٌ! فَقَالَ: إِنَّ الْمَوْتَ فَزَعٌ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا لَهَا .

(الصحیح المسلم/960)ج۲مخ۶۶۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: جابر بن عبد الله (رض) وايي: يوه جنازه زموږ په مخ کښي تيره سوه رسول الله (صلی الله عليه وسلم ) د هغي (جنازې) په خاطر ودريدی موږ هم همدارنگه ودريدلو وروسته موږ وويل : يا رسول الله دا د يوه يهودي جنازه وه، رسول اکرم ﴿صلی الله عليه وسلم ﴾ وفرمايل : مرگ وحشتناکه شی دی هرکله مو چي جنازه وليدله د هغې په خاطر ورته ودريږئ .

## روژه په خورمايا په اوبو ماتول سنت ده

الحديث : (۴۳)

وَعَنْ أَنَسٍ رض، قالَ: كانَ رَسُولُ اللَّهِ (ص) يُفْطِرُ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ عَلى رُطَبَاتٍ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ رُطَبَاتٌ فَتُمَيْرَاتٌ، فإِنْ لمْ تَكُنْ تُميْرَاتٌ حَسَا حَسَواتٍ مِنْ ماءٍ .

ابوداود(۲۳۵۶)ج۲ مخ۳۰۶)ترمذی (۶۹۴

له انس (رض) څخه روايت دی چي: پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) مخکي له لمانځه به يې په څو دانو تازه خُرماوو او که به تازه خُرماوي نه وي په څو دانو نوي کوچنی رسيدلي خرماوو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



که به هغه هم نه وي په لاس به يې څو لپې اوبه ورواخستلي او افطار به يې کوی.

# دروژه ماتي دعا

الحديث : (۴۴)

عَن ابْنِ عُمَر قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذَا أَفْطَرَ قَالَ: «ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ، وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ

له ابن عمر (رض) څخه روايت دی پيغمبر ( صلى الله عليه وسلم) چي کله به يې ا فطار کوی ويل به يې

ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ، وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ

(سنن أبي داود2357رقم الحديث

صفحه31/ج12)

# ددنيا مينه اوپه دنياکي سيالي غرق کوونکې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحديث : (٤٥)

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ (رض): أَنَّ النَّبِيَّ (ﷺ) خَرَجَ يَوْمًا، فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلاتَهُ عَلَى الْمَيِّتِ، ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ: «إِنِّي فَرَطٌ لَكُمْ وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ، وَإِنِّي وَاللَّهِ لأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الآنَ، وَإِنِّي أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الأَرْضِ، أَوْ مَفَاتِيحَ الأَرْضِ، وَإِنِّي وَاللَّهِ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي، وَلَكِنْ أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا .

(بخارى:1344)ج٢مخ٩١)

ژباړه : عقبه بن عامر «رض» وايي: يوه ورځ رسول الله ﴿صلى الله عليه وسلم﴾ بهر ولاړ او د اُحد د شهيدانو لپاره يي لمونځ ادا کړ وروسته راستون سو او منبر ته ولاړ او ويي فرمايل : « زه به د قيامت په ورځ له تاسو څخه مخکي يم او تاسو لپاره به شاهدي ورکوم. په الله ﴿جل جلاله﴾ قسم همدا اوس زه خپل حوض ( کوثر ) وينم او د ځمکی د مخ د ټولو خزانو کيلی ماته راکړل سوي او په الله (جل جلاله) قسم زما ويره له دي نده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي وروسته له مابه مشرکان شي بلکه له دې څخه ويريږم چي تاسو د دنيا د مال لاسته راوړلو لپاره به رقابت(سيالي) وکړئ.

## په هيره روژه نه ماتيږي

الحديث : (۴٦)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «مَنْ نَسِيَ وَهُوَ صَائِمٌ، فَأَكَلَ أَوْ شَرِبَ، فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ، فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللَّهُ وَسَقَاهُ

(صحيح مسلم/رقم الحديث1155ج۲مخ۸۰۹)

ژباړه: ابوهريره (رض) وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: که څوک د روژي په حالت کښي وو او په هيريدلو(سهوي) سره يې څه وخوړل ياېې وڅښل ، نو خپله روژه دي( تر مقرر افطاري وخت) کامله کړي ځکه چي الله (جل جلاله) هغه ته اوبه او ډوډۍ ورکړي .

## دحرام مال صدقه نه قبليږي

الحديث : (۴۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ فرمايي: څوک چي له حرام لاري څخه مال لاسته راوړي او وروسته هغه صدقه ورکړي اجر (ثواب) نلري او ګناه يې ور په غاړه ده .

مَن كسب مالاً من حرام، ثم تصدق به لم يكن له فيه «أجر، وكان إصره عليه »

(صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۱۱۰ (۱ج/۵۸مخ)

## څوک دي دځان نسبت وبل چا ته نه کوي

الحديث :(۴۸)

عن أَبِي ذَرٍّ (رض): أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ (ﷺ) يَقُولُ: «لَيْسَ مِنْ رَجُلٍ ادَّعَى لِغَيْرِ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُهُ إِلاَّ كَفَرَ، وَمَنِ ادَّعَى قَوْمًا لَيْسَ لَهُ فِيهِمْ نَسَبٌ، فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ .

(البخارى:رقم الحديث3508)ج۴مخ۱۸۰)

ژباړه: ابوذر(رض) وايي: وامي وريدل نبي اکرم (ﷺ) وفرمايل: « هر يو سړى چي په پوهي سره خپل نسبت له خپل پلار ماسوا بل چاته وکړي کفر يي کړى. او هر څوک چي خپل نسبت داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوم ته وکړي چي د هغه قوم څخه نه وي خپل ځای دي په اوور کښي تيار کړي .

شرحه : مثلاً ظاهر روغ انسان وي او د محمود زوی وي څوک ورڅخه پوښتنه وکړي ظاهره د چا زوی يې ؟

ظاهر په پوهي سره ووايي د مزمل زوی يم نو ظاهر کفر وکړ(که يې حلال ګڼي بياکفردی اوکه حلال يي نه ګڼي بيادکفرسره مشابه عمل دی). دا حکم عام دی يعني ښځينه دي هم په غور سره دا مسئله په ځان عملي کړي

الله (جل جلاله) مو دي له هر منکر عمل څخه وساتي ﴿آمين﴾ .

# په روژه مات کي تلوارثواب لري

الحديث : (۴۹)

وَعَنْ أَبي هُرِيرَةَ ﴿رض﴾ قالَ: قالَ رَسُولُ اللَّهِ ﴿ﷺ﴾ قال اللَّه لأ: {أَحَبُّ عِبَادِي إِلَيَّ أَعْجَلُهُمْ فِطْراً.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رواه الترمذي وقالَ: حَديثٌ حسن (٧٠٠رقم (الحديث)ج٢مخ٧٤)

ژباړه :« له ابوهريره (رض) څخه روايت دى چي پيغمبر ﴿صلى الله عليه وسلم﴾ وفرمايل: «خداى ﴿جل جلاله﴾ فرمايي: زما غوره بنده ګان هغه څوک دي چي تر نورو مخکښى افطار کوي .

## مومن بايد دښوخلکوسره مينه ولري

الحديث : (٥٠)

عَنْ أَنَسٍ (رض): أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ النَّبِيَّ (ﷺ) عَنِ السَّاعَةِ، فَقَالَ: مَتَى السَّاعَةُ؟قَالَ: «وَمَاذَا أَعْدَدْتَ لَهَا»؟ قَالَ: لا شَيْءَ إِلاَّ أَنِّي أُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ. فَقَالَ: «أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ .

(بخارى:رقم الحديث 3688)ج٥مخ١٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: انس (رض) وايي: يو سړی د قيامت دورځي په اړه له رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) څخه پوښتنه وکړه او ويي ويل : قيامت څه وخت دی؟

رسول الله (صلی الله علیه وسلم ) وفرمايل: د هغه (قيامت) لپاره دي څه تيار کړي؟

هغه سړی وويل : کوم څه مي ندي تيار کړي پرته له دې چي له خدای تعالی او رسول ( محمد صلی الله علیه وسلم ) سره يې مينه لرم

آنحضرت (صلی الله علیه وسلم) وفرمايل: ته د قيامت په ورځ له هغه چاسره به يوځای يي چاسره چي مينه (او علاقه) لري

## دکونډي ښځي نکاح دهغي دخوښی پرته نه صحي کيږي

الحديث : (٥١)

عَنْ خَنْسَاءَ بِنْتِ خِذَامٍ الأَنْصَارِيَّةِ رَضِيَ الله عَنْهَا: أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهْيَ ثَيِّبٌ، فَكَرِهَتْ ذَلِكَ فَأَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ (ﷺ) فَرَدَّ نِكَاحَهُ .

(بخاری:5138رقم الحديث)ج٧مخ١٨)

ژباړه: له خنساء د خذام انصاري رضي الله عنه لور چي کونډه ښځه وه روايت دی چي پلاريي هغه يو چا ته په نکاح کړه مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغی ( دا نکاح ) خوښه نکړه نو د رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) حضور ته راغله آنحضرت ( صلی الله علیه وسلم ) د هغې د پلار ( لخوا تړل سوي) نکاح (د لور په غیاب او ناراضي کې) مردوده وګڼله .

# چې مسلمان په مجلس کې وي هغه ته سلام ویلای سی

الحدیث : (٥٢)

وعن أُسامه ﴿رض﴾ أن النبي ﴿ﷺ﴾ مَرَّ عَلَى مَجْلسٍ » فيه أخلاطٌ من المُسلِمِينَ والمُشرِكِين عَبَدَةِ الأوثَانِ «والیَهُودِ فَسَّلمَ عَلَیْهِمْ النبي ﴿ﷺ﴾

متفق علیه ( مسلم رقم الحدیث1798ج٣مخ١۴٢٢)

ژباړه:« له اسامه ﴿رض﴾ روایت دی چې ویل یې: پیغمبر﴿صلی الله علیه وسلم﴾ د یو مجلس له

ځنګ څخه تیریدی چې په هغه کې ډلی او د مسلمانانو مخلوط او مشرکان او یهودان پکښې حاضر وو او پیغمبر﴿صلی الله علیه وسلم ﴾ په هغو سلام وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دغائب سلام ته جواب ورکول لازمي دی

الحديث : (٥٣)

وعن عائشة (رض) قالتْ: قال لي رسولُ الله (ﷺ): »

«هذا جِبرِيلُ يَقرَأُ عَلَيْكِ السَّلَامَ» قالَتْ: قُلتُ: «وَعَلَيْه

السَّلامُ ورحْمَةُ الله وَبَرَكَاتُهُ.

متفقٌ عليه/ (مسلم رقم الحديث2447ج۴مخ۱۸۹۵)

ژباړه:« له حضرت عايشه «رض» څخه روايت دی چي ويل يي:

پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) ماته وفرمايل: « دا جبرئيل دی پر

تا سلام کوي » ومي ويل : وعليه السلام و رحمة الله و برکاتهُ .

# ښځوته (که فتنه نه وي ) سلام ويل

الحديث : (٥۴)

عن أسماء بنتِ يزيد أن رسول الله (ص) مَرَّ في المَسْجِد

يوْماً وَعصْبةٌ مِنَ النِّساء قُعوُدٌ فألوْي بِيده بالتسليم.

رواه الترمذي وقال:حديث حسن-2698

ژباړه :« له اسماء د يزيد لور څخه روايت دی چي رسول الله

﴿صلی الله عليه وسلم﴾ يوه ورځ د جومات په مينځ کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تيريدی په دي حال کي يو تعداد ښځي ناستي وي هغه (صلی الله عليه وسلم) د لاس په پورته کولو سره ( ښځو ته) سلام وکړ .

# دغم (پريشانی) دليري کولودعا

الحديث : (٥٥)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ الله عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ (ﷺ) كَانَ يَقُولُ عِنْدَ الْكَرْبِ: «لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ، لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَرَبُّ الأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ .

(بخا ری : رقم الحديث6346 ) ج ٨مخ ٧٥)

ژباړه: :ابن عباس رضي الله عنهما وايي : رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د غم او پريشانی په وخت به يي فرمايل :

لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ، لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ رَبُّ السّمَوَاتِ وَرَبُّ الأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ».

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني هيڅ معبود بغير له لوی او حليم خدای څخه شتون نلري هيڅ معبود بغير له خدای تعالی چي د عرش پروردګار دی شتون نلري هيڅ معبود بغير له خدای تعالی چي پروردګار د آسمانونو او ځمکي او ستر عرش دی شتون نلري .

## ذکر کول اونه کول د ژوندي انسان او مړ انسان په مثال دی

الحديث : (٥٦)

عَنْ أَبِي مُوسَى (رض) قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ (ﷺ): «مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ، وَالَّذِي لا يَذْكُرُ رَبَّهُ؛ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ .

(بخارى:رقم الحديث6407)ج٨مخ٨۶

ژباړه: ابوموسي اشعري (رض) وايي: نبي اکرم (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: مثال د هغه چا چي خپل (واحد) پروردګار يادوي اوهغه چي نه يې يادوي لکه د ژوندي انسان او مړ انسان په مثال دی.

## زغم لويه پهلواني ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحديث : (٥٧)

وعن أبي هريرة «رض» أَن رسول اللَّه ﴿ صلى الله عليه وسلم ﴾ قال: لَيس الشَّديدُ بِالصُّرعَةِ، إِنَّما الشديدُ الذي يَملِكُ نفسهُ عِند الغضبِ .

متفقٌ عليه /(مسلم رقم الحديث2609ج۴مخ۲۰۱۴)

ژباړه :« له ابوهريره «رض» څخه روايت دی چي پيغمبر ﴿ صلى الله عليه وسلم ﴾ وفرمايل: قوي او پهلوان هغه نه دی چي يو څوک په ځمکه راوغورځوي بلکه پهلوان هغه دی چي د قهر ( او غوصی) په وخت کی په ځان حاکم (مسلط) واوسي .

## قرآن د قيامت په ورځ د(قرآن) د محبت كوونكو شفاعت كوي

الحديث : (٥٨)

عن أَبي أُمامَةَ ﴿رض﴾ قال: سمِعتُ رسولَ اللَّهِ ﴿ﷺ﴾ يقولُ: اقْرَؤُا القُرْآنَ فإِنَّهُ يَأْتِي يَوْم القيامةِ شَفِيعاً لأَصْحابِهِ .

(رواه مسلم-رقم الحديث804ج۱مخ۵۵۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : « له ابوامامه ﴿رض﴾ څخه روایت دی چي ویل یي: له رسول الله ﴿صلی الله علیه وسلم ﴾ څخه مي واو ریدل فرمایل یي: «قرآن ووایاست، ځکه چي قرآن د قیامت په ورځ د (خپلو) یارانو(تلاوت لوستونکواوعمل کونکو شفاعت کوي .

## قرآن دترقۍ داراومداردی

الحدیث : (٥٩)

وعن عمرَ بن الخطابِ (رض) أَنَّ النَّبِيَّ ﴿ص﴾ قال: إِنَّ اللَّه يرفَعُ بِهذَا الكتاب أَقواماً ويضَعُ بِهِ آخَرين.

(رواه مسلم –رقم الحديث817ج١مخ٥٥٨)

ژباړه« له حضرت عمر بن خطاب (رض) څخه روایت دی چي پیغمبر ﴿صلی الله علیه وسلم﴾ وفرمایل: «خدای تعالی په دي قرآن سره ځیني پورته کوي او ځیني نور کښته کوي .

## دقرآن څخه خالي سینه دکنډوالي په شان وي چي څوک پکښي نه اوسيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحديث : (٦٠)

وعنِ ابنِ عباسٍ ﴿رض﴾ قال: قال رسولُ اللَّهِ ﴿ص﴾: »
«إنَّ الَّذي لَيس في جَوْفِهِ شَيْءٌ مِنَ القُرآنِ كالبيتِ الخَرِبِ .

(رواه الترمذي وقال: حديث حسن صحيح رقم الحديث 2913ج٥مخ٢٦)

ژباړه : له عبدالله ابن عباس (رض) څخه روايت دی چي پيغمبر ﴿صلى الله عليه وسلم﴾ وفرمايل: « د چا چي په زړه کي حصه (برخه) د قرآن نه وي ( د هغه زړه ) د نړيدلي کور په شان دی
يعني (کنډوالي په شان وي) او څوک پکښي نه اوسيږي .

# ترلمانځه ورسته ښکلي دعا

الحديث : (٦١)

وعنْ معاذٍ (رض)أَنَّ رسُول اللَّهِ ﴿ص﴾ أَخَذَ بيَدِهِ »
وقال: «يَا مُعَاذُ، وَاللَّهِ إِنّي لأُحِبُّكَ» فقال: «أُوصِيكَ يَا معاذُ لا تَدعَنَّ في دُبُرِ كُلِّ صَلاةٍ تقُولُ: اللَّهُمَّ أعِنِّي على ذِكْرِكَ، وشُكْرِكَ، وَحُسنِ عِبادتِكَ .

(رواهُ أبو داود بإسناد صحيحٍ –رقم الحديث1522ج٢مخ٨٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : «له معاذ (رض) څخه روايت دى چي پيغمبر ﴿صلى الله عليه وسلم﴾ د هغه ( معاذ ) لاس ونيوى او داسي يي وفرمايل:اې معاذه ! په الله تعالى قسم زه ستاسره مينه لرم» وروسته يي وفرمايل تاته وصيت كوم اې معاذه چي وروسته له هر لمانځه دغه دعا ووايه او هغه پرېنږدي

اللَّهُمَّ أعِنِّي على ذِكْرِكَ، وشُكْرِكَ، وَحُسنِ عِبادتِكَ .

## دقيامت په ورځ به قلې د ښكرور څخه كسات اخلي

الحديث : (٦٢)

وعن أَبِي هريرة (رض) أَن رسولَ اللَّه (ﷺ) قال: «لَتُؤَدُّنَّ الْحُقُوقَ إِلَى أَهْلِهَا يَوْمَ الْقيامَةِ حَتَّى يُقَادَ للشَّاةِ الْجَلْحَاء مِنَ الشَّاةِ الْقَرْنَاء .

(رواه مسلم –رقم الحديث2582ج۴مخ١٩٩٧)

له ابوهريره "رض" څخه روايت دى چي پيغمبر ( صلى الله » عليه وسلم) وفرمايل : په قطعي توگه د قيامت په ورځ حقوق

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ( د حقوقو) صاحبانو ته ورستنيږي ان داچي د بي ښکر مږ لپاره به له ښکرور مږخخه قصاص اخيستل کيږي

## له دنيا او د ښځو( له فتني)څخه وويريږی

الحديث : (٦٣)

وعنه أَنَّ رسولَ اللَّه ﷺ، قال: «إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ » وَإِنَّ اللَّه تَعالى مُسْتَخْلِفكُم فِيهَا، فَيَنْظُرُ كَيْفَ تَعْملُونَ فاتَّقُوا ال دُّنْيَا واتَّقُوا النِّسَاءِ .

رواه مسلم رقم الحديث2742ج۴مخ۲۰۹۸)

له ابوسعيد خدری (رض) څخه روايت دی چي پيغمبر﴿صلی » الله عليه وسلم﴾ وفرمايل: «دنيا خوږه او زرغونه (شنه) ده او خدای تعالی تاسي په هغه کي د ځان وارثان ګرځولي ياست او ستاسو رفتار (سلوک) ته ګوري چي څنګه دی او څنګه عمل کوی نو له دنيا او د ښځو ( له فتني) څخه دي وويريږي .

## دروژي آخيري لس شپي روښول سنت دي

الحديث : (٦۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ عائشه قَالَتْ «كَانَ النبى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ شَدَّ مئزرة وَ أَحْيَا لَيْلَهُ وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ .

متفق عليه:(صحيح بخارى رقم الحديث۲۰۲۴ ج ۳مخ۴۷)اوصحيح مسلم/۱۱۷۴

عائشه (رض) وايي:( د رمضان اخيري لسيزه چي به راورسيده پيغمبر (صلى الله عليه وسلم ) به خپله ملا (کلکه) وتړله او په شپو به تر سهاره ويښ وو او عبادت به يي کوی او خپله کورنی به يي هم د عبادت لپاره راويښوله .

# تهجداوهرنیک عمل په دوام سره غوره وي

الحديث : (٦٥)

عن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللَّه عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ (ﷺ): يَا عَبْدَ اللَّهِ، لا تَكُنْ مِثْلَ فُلانٍ كَانَ يَقُومُ اللَّيْلَ فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيْلِ .

(بخارى:1152رقم الحديث)ج۲ مخ۵۴۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما وايي: رسول الله(ﷺ)ماته په خطاب کی وفرمایل: «اې عبدالله!
لکه فلانی داسي مه اوسه چي په( پيل ) کي يي د شپي لمونځ ( تهجد ) کوی او وروسته يي ترک کړ.

**یادونه** : که يي ځوک دائمي نسي کولائی نوکله چي ويښ سي هم دي کوي هم ثواب لري .

## ښه خوب دښه سړي دنبوت ۴۶م جزء دی

الحديث : (٦٦)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ (رض): أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ (ﷺ) قَالَ: «الرُّؤْيَا الْحَسَنَةُ مِنَ الرَّجُلِ الصَّالِحِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ .

(بخاری:رقم الحديث6983)ج۹مخ ۳۰)

ژباړه: انس بن مالک (رض) وايي: رسول الله (ﷺ) وفرمايل: « ښه خوب چي يو نيک شخص ويني د نبوت له شپږڅلويښت ځانګو څخه يوه ځانګه ده .

## نبي ﷺ څکه سردارِدوجهان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحديث : (٦٧)

عَن ابي هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ (ﷺ): «أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَأَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ، وَأَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ .

(مسلم/رقم الحديث2278)ج۴مخ۱۷۸۲)

ژباړه : له ابوهريره "رض" څخه روايت دی چي رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) وفرمايل: « د قيامت په ورځ زه د آدم [ع] د اولادونو سرور يم او اولين شخص يم چي قبر يي سوری کيږي (او ژوندی کيږي) او اولين شخص يم چي شفاعت کوم او اولين شخص يم چي شفاعت يي قبول کيږي .

## پرحالت کي تاسي په امام پسي لمونځ وکړی ستاسوپه نفع دی

الحديث : (٦٨)

وعنْ ابوهُريرَه (رض) أنَّ رسُول اللَّه (ﷺ) قَالَ: »

«يُصَلُّونَ لَكُمْ، فَإنْ أصَابُوا فَلَكُمْ، وإنْ أخْطئُوا فَلَكُمْ وَعلَيْهِمْ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



(رواهُ البُخاريُّ –رقم الحديث694ج١مخ١۴٠)

ژبـاړه :

له ابوهريره (رض) څخه روايت دی چي پيغمبر﴿ص﴾

وفرمايل

د جماعت امامان ستاسو لپاره لمنځونه کوي که يي سم اداء کړی ستاسو په نفع دی او که يي تيروتنه(اشتباه) وکړه ستاسو په نفع او د هغوی په ضرر دی .

# مړو ته ښکنځل مه کوئ دوی اوخدای(ج) سره پوهيږي

الحديث : (٦٩)

پيغمبر ﷺ فرمايي :

مړو ته ښکنځل مه کوئ ځکه چي هغوی د خپلو اعمالو په نتيجه رسيدلي دي

قال النبي ﷺ

لَا تَسُبُّوا الْأَمْوَاتَ، فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا "

صحيح بخاري رقم الحديث6516ج٨مخ١٠٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حياء ښائست دی اوبې شرمي بدرنګي ده

الحديث : (٧٠)

وعِنْ أَنَسٍ (رض) قَاَل: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ (ﷺ): «مَا كَانَ » الْفُحْشُ فِي شَيْءٍ إِلاَّ شانَهُ، ومَا كَانَ الحَيَاءُ فِي شَيْءٍ إِلاَّ زَانَهُ .

(رواه الترمذي، وقال: حديثٌ حسن 1974رقم الحديث) ج٣مخ٤١٧)

ژباړه : « له انس (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﴿صلی الله عليه وسلم﴾ وفرمايل : «بد ويل او بي ادبي که په هر شي کي وي هغه معيوبوي يي او حياء او ادب چي په هر شي کي وي هغه ته زينت ﴿ښايست﴾ ورکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه څوک پوره مومن ندی چي ګاونډی (همسایه) یي له شر څخه په امن کي نه وي

الحديث : (٧١)

وعن أبي هريرة (رض) أَن النبي (ﷺ) قال: «واللَّهِ لا يُؤْمِنُ، واللَّهِ لا يُؤْمِنُ» قِيلَ: منْ يا رسولَ اللَّهِ؟ قال: «الَّذي: لا يأْمنُ جارُهُ بَوَائِقَهُ» .

(متفق عليه / صحیح المسلم رقم الحدیث46ج١مخ٦٦)

ژباړه:«له ابوهریره (رض) څخه روایت دی چي نبي اکرم ( صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل: په والله قسم ایمان نلري ، په والله قسم ایمان نلري - پوښتنه وشوه څوک ایمان نلري یا رسول الله ؟

مبارک وفرمایل : هغه څوک چي ګاونډی (همسایه) یي له شر څخه په امن کي نه وي .

## دکامیابۍ دری اعمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحديث : (٧٢)

وعن اَبوهُرَيّرَه (رض) أَن رسول اللَّه ﴿ص﴾ قال: «مَنْ » كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ والْيوْمِ الآخِرِ، فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ، وَمَنْ كانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ والْيوم الآخِر، فَلْيصلْ رَحِمَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّه وَالْيوْمِ الآخِرِ، فلْيقُلْ خيراً أَوْ لِيَصمُتْ .

(متفقٌ عليه /صحيح المسلم رقم الحديث47ج١مخ٦٨)

ژباړه : « له ابوهريره (رض) څخه روايت دی چي پيغمبر ﴿صلی الله عليه وسلم ﴾ وفرمايل : هرڅوک چي په الله تعالی او د قيامت په ورځ ايمان لري د خپل ميلمه اکرام (پالنه او کرامت ) دي وکړي(وه يي ساتی) هرڅوک چي په الله تعالی او د قيامت په ورځ ايمان لري صله يي رحمي دي پرځای (دوامداره) وساتي هرڅوک چي په الله تعالی ايمان لري يادي د خير خبره وکړي يادي سکوت وکړي .

## مرګ دمومن لپاره راحت دی

الحديث : (٧٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ أَنَسٍ (رض) قَالَ: لَمَّا ثقُلَ النَّبِيُّ (ص) جَعَلَ يَتَغَشَّاهُ، فَقَالَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلام: وَاكَرْبَ أَبَاهُ، فَقَالَ لَهَا: «لَيْسَ عَلَى أَبِيكِ كَرْبٌ بَعْدَ الْيَوْمِ .

(البخارى:4462)ج۶مخ۱۵)

ژباړه : انس (رض) وايي: كله چي د نبی اکرم ﷺ(صلی الله علیه وسلم ) مریضي سخته سوه او درد وربانديي غلبه وکړه فاطمې (رض) وويل : اې زما پلار څومره درد زغمې
رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) خطاب وهغې ته وفرمایل : پلار به دي له نن ورځي څخه وروسته درد ونلري .

## تلاوت په شوق اوهوسایۍ کي وکړئ

الحديث : (۷۴)

عَنْ جُنْدَبِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ (رض) عَنِ النَّبِيِّ (ص) قَالَ: «اقْرَءُوا الْقُرْآنَ مَا ائْتَلَفَتْ قُلُوبُكُمْ، فَإِذَا اخْتَلَفْتُمْ فَقُومُوا عَنْهُ .

(**البخارى**:5060) ج۶مخ۱۹۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: جندب بن عبدالله (رض) وايي: نبي اکرم (ص) وفرمايل: «ترکوم وخت چي نشاط او د زړه حضور لری قرآن تلاوت کړئ او کله چي نشاط او علاقه نلری هغه پريږدئ

شرحه: يعني د قرآن تلاوت بايد په ډير دقت ، غَور او شديده علاقه سره وکړو کله چي مو د زړه علاقه کمه سوه بايد تلاوت ترک کړو په دي خاطر چي په تلاوت کولو کي کومه اشتباه ونکړو .

# قيامت پر مسلمانونه راځي

الحديث : (٧٥)

عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ (رض) قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ (ﷺ) يَقُولُ: مِنْ شِرَارِ النَّاسِ مَنْ تُدْرِكْهُمُ السَّاعَةُ وَهُمْ أَحْيَاءٌ.

(البخاری:رقم الحديث7067)ج٩مخ٤٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : ابن مسعود (رض) وايي : وامي وريدل چي نبی اکرم ﴿صلی الله عليه وسلم ﴾ وفرمايل : هغه کسان چي د قيامت په واقع کيدلو کي ژوندی دي له بدترينه انسانانو څخه دي اشاره هغو انسانانو ته سوي ده چي د قيامت په واقع کيدلو کي ژوندي وي .

## دغله لاس په غلاکي پريکول اسلامی حکم دی

الحديث : (٧٦)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ الله عَنْهُمَا: أَنَّ النَّبِيَّ (ﷺ) قَطَعَ فِي مِجَنٍّ ثَمَنُهُ ثَلاثَةُ دَرَاهِمَ .

(البخاری:رقم الحديث6796)ج٨مخ١٦١)

ژباړه : ابن عمر رضي الله عنهما وايي: نبي اکرم (صلی الله عليه وسلم) د يو غل لاس د يو ډال (سِپر) په خاطر چي ارزښت يي دري 3 درهمه وو ورقطع کړ .

يادونه:زموږپه مذهب کی پرلس درهمه لاس کاټيږي ددې حديث ځواب اووزموږ دلائل په لويوکتاب کی وګورئ(عمدة القاری)

## بهترين استغفار(سَيِّدُالاستِغفَارِ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحديث : (۷۷)

عن شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ (رض) عَنِ النَّبِيِّ (ﷺ) قَالَ: «سَيِّدُ الاسْتِغْفَارِ أَنْ تَقُولَ: اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لا إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ». قَالَ: «وَمَنْ قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا، فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوقِنٌ بِهَا، فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ

(البخاری:6306)ج۸مخ۶۷

ژباړه : شداد بن اوس (رض) وايي : نبی اکرم ﴿ صلی الله علیه وسلم ﴾ وفرمايل : بهترين استغفار دادی چي وي وايي :

اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لا إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ

يعني الهي! ته زما پروردگاريي، پرته له تا بل معبود نشته ،تا زه خلق کړی یم او زه ستا بنده یم ، په هغه ترون چي له تاسره مي تړلی دی د توان تر حده ورباندي قايم يم او کومه وعده چي دي راسره کړي ورباندي يقين لرم، له بدو اعمالو څخه چي ترسره کړي مي دي تاته پناه غواړم او کوم نعمتونه چي تا ماته عنايت کړي او کوم ګناهونه چي ما ترسره کړي په هغو اعتراف کوم نو ماته مغفرت وکړه ځکه چي پرته له تا څوک ګناهونه نه بخښي

هرڅوک چي په ورځ کی دا دعا په يقين سره ووايي او مخکي له دي چي شپه راشي او مړ شي له جنتيانو څخه شميرل کيږي ، همدارنګه هرڅوک چي په شپه کي دا دعا په يقين سره ووايي او مخکي له دي چي سهار سي او مړ سي له جنتيانو څخه شميرل کيږي .

## الله تعالی دميني اوقربت قدردان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



الـحديث (٧٨)

عن أَنس ﴿رض﴾ عن النبي ﴿صلى الله عليه وسلم﴾ فيمَا يرْوِيهِ عنْ ربهِ لأ قال: «إِذَا تقرب الْعبْدُ إِلَيَّ شِبْراً تَقرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِراعاً، وإِذَا تقرَّب إِلَيَّ ذراعاً تقرَّبْتُ منه باعاً، وإِذا أَتانِي يَمْشِي أَتيْتُهُ هرْوَلَة .ښ

(رواه البخارى | رقم الحديث7536ج٩مخ١٥٧)

ژباړه : « له انس (رض) څخه روايت دی چي نبی اکرم (صلی الله علیه وسلم) هغه څه چي له الله تعالی څخه نقل کوي فرمايي : که بنده په مقدار د يو وجب ماته نژدي سي زه يو ذراع هغه (بنده ته) نژدي کيږم او که په مقدار د يو ذراع ماته نژدي سي زه يو باع هغه ته نژدی کيږم او که پياده زما په طرف راسي زه په ( بلاکيف) لوړو قدمونو د هغه ( بنده ) طرف ته ورځم .

ذراع او باع د اندازه نيولو واحدونه دي

ذراع : لاس چي مستقيم ونيسو يعنی له څنګل څخه د لاس تر ګوتی پوري او باع يعني دواړه لاسونه چي خلاص او مستقيم ونيسو د يو لاس له ګوتي د بل لاس تر ګوتي پوري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دشهادت سوال اوغوښتنه هم کاميابي ده

الحديث : (٧٩)

عَنْ أبى ثَابِتٍ، وقِيلَ: أبى سعيدٍ، وقِيلَ: أبى الْولِيدِ، »
سَهْلِ بْنِ حُنيفٍ، وَهُوَ بدرِى (رض) أَن النبى (ﷺ) قال:
«مَنْ سَأَلَ اللَّهَ، تعالَى الشّهَادَة بِصِدقٍ بَلَّغهُ اللَّهُ مَنَازِلَ
الشُّهدَاء، وإِنْ مَاتَ عَلَى فِراشِهِ.
(رواه مسلم رقم الحديث1909ج٣مخ١٥١٧)

ژباړه : « له ابوثابت . ويل شوی ابوسعيد: ياهم ابوالوليد .
سهل (رض)بن حنيف چي دبدرله اصحابوڅخه دی روايت
شوی چي رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) وفرمايل : څوک
چي په صدق سره شهادت له الله تعالی وغواړي الله تعالی هغه
د شهداوو درجي او مرتبي ته رسوي که څه هم د خوب په بستر
کي مړ سي .

يادونه دشهادت غوښتنه مطلق رواده يعني اې الله (ج) چي کله
مرګ راکوي نودشهادت مرګ راکړه خو مقيد يعني په معلومه
معرکه يي نسي غوښتلائی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په قبرکي يوعمل په ښه درځي

الحديث : (٨٠)

وعن أَنَس (رض) عن رسول اللَّه (صلى الله عليه وسلم) قال: يَتْبَعُ المَيِّتَ ثَلاثَةٌ: أَهْلُهُ وَمالُهُ وَعَمَلُهُ: فَيَرْجِعُ اثْنَانِ. وَيَبْقَى وَاحدٌ: يَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَيَبْقَى عَمَلُهُ .

متفقٌ عليه / صحيح المسلم رقم الحديث2960ج۴مخ۲۲۷۳)

ژباړه : « له انس (رض) څخه روايت دى چي پيغمبر (صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل : « دري (3) شيان له مړي سره ځي : کورنى ، مال او د هغه (مړي) عمل سربيره د هغو څخه دوه (2) بيرته راستنيږي او يو (1) ورسره پاتي کيږي ، کورنى او مال هغه(يوازي) پريږدي او عمل يي له هغه سره باقي پاته کيږي .

**هغه مجلس سوء (بد) دى چي په هغه کي د الله(ج) ذِکر ونکړي اوپه خپل پيغمبر (محمد ﷺ ) درود ونه وايي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحديث :(٨١)

وعَن اَبوهُرَيرَه (رض) عن النبي (ﷺ) قال: «مَا جَلَسَ قَومٌ مَجْلِساً لم يَذْكرُوا الله تَعَالَى فيه ولَم يُصَلّوا على نَبِيِّهم فيه إلاَّ كانَ عَلَيّهمْ تِرةٌ، فإِنْ شاءَ عَذَّبَهُم، وإنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُم .

(رواه الترمذي وقال حديث حسن. 3380رقم الحديث)ج٥مخ٣٢٣)

ژباړه : له ابوهريره (رض) څخه روايت دی چي پيغمبر ﴿صلی الله عليه وسلم﴾ وفرمايل: هره ډله چي په داسي مجلس کي کښيني چي په هغه کي د الله(ج) ذِکرونکړي او په خپل پيغمبر (محمد ﷺ) درود ونه وايي يقيناً هغه مجلس سوء (بد) دی او (د الله تعالی لخوا) به هغوی ته ضرر وي او که الله تعالی وغواړي هغوی ته عذاب ورکوي او که وغواړي هغوی ته مغفرت کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوړل اوڅيښل به انسان په ښي (راسته) لاس کوي

الحديث : (٨٢)

عَن ابْنِ عُمَرَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﴿ص﴾ قَالَ: «إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَأْكُلْ بِيَمِينِهِ، وَإِذَا شَرِبَ فَلْيَشْرَبْ بِيَمِينِهِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ بِشِمَالِهِ وَيَشْرَبُ بِشِمَالِهِ .

(صحيح المسلم /رقم الحديث2020)ج٣مخ١٥٩٩)

ژباړه : ابن عمر (رض) وايي : رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) وفرمايل: هر کله چي له تاسو څخه کوم يوه وغوښتل ډوډی وخوري په ښي (راسته) لاس دي (ډوډی) وخوري. او هرکله چي له تاسو څخه کوم يوه وغوښتل اوبه وڅښي په ښي (راسته) لاس دي (اوبه) وڅښي ځکه چي شيطان په چپ لاس ډوډی خوري او په چپ لاس اوبه څښي .

# دموراوپلارخدمت کله ناکله ترجهادلامخکي سي

الحديث : (٨٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قال: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ(ﷺ) فَاسْتَأْذَنَهُ فِي الْجِهَادِ، فَقَالَ: «أَحَيٌّ وَالِدَاكَ»؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: «فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ .

(البخارى:3004رقم الحديث)ج۴مخ۵۹)

ژباړه : عبداللهبنعمرو (رضي الله عنهما) وايي: يوسړى د نبي اكرم (صلى الله عليه وسلم) حضور ته راغلى او اجازه يي وغوښتله چي جهاد ته لاړسي. آنحضرت (ﷺ) ورڅخه وپوښتل: «آيا پلار او مور دي ژوندي دي؟

هغه وويل: هو

رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: د هغو خدمت ستا جهاد دی .

# دنبی کریم ﷺ دم پرمریض باندي

الحديث : (۸۴)

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّه عَنْهَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ (ﷺ) كَانَ إِذَا أَتَى مَرِيضًا أَوْ أُتِيَ بِهِ، قَالَ: «أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشْفِ وَأَنْتَ الشَّافِي، لا شِفَاءَ إِلاَّ شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لا يُغَادِرُ سَقَمًا .

(البخارى:5675رقم الحديث)ج٧مخ١٢١)

ژباړه: عايشه ﴿رضي الله‌عنها﴾وايي هرکله چي به دالله رسول﴿صلى الله عليه وسلم﴾ د يو مريض عيادت ته ورتلى او يا کوم مريض چي به يي د ده مبارک حضور ته راوړى فرمايل به يي: «أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ، اشْفِ وَأَنْتَ الشَّافِي، لا شِفَاءَ إِلاَّ شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لا يُغَادِرُ سَقَمًا». يعني اي د خلکو پروردګاره مريضي ورته محو کړه او داسي شفاء ورکړه چي هيڅ رنګه مريضي باقي پاتي نسي ځکه چي ته شفاء ورکونکى يې او ستا له شفاء څخه بله هيڅ شفاء شتون نلري .

## په اسلام کي عربي پر عجمي تورپرسپين هيڅ فضيلت نلري

الحديث : (٨٥)

رسول الله ﴿صلى الله عليه وسلم﴾ فرمايى

لَا فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى عَجَمِيٍّ، وَلَا لِأَسْوَدَ عَلَى أَحْمَرَ، إِلَّا "بِالتَّقْوَى

(c) ketabton.com: The Digital Library



[(جامع الاحاديث الصحيح(٧٩]

[بيهقى، شعب‌الايمان٤٧٧٤ ]ج٧مخ١٣٢)

هيڅ يو عربي په هيڅ عجمي او هيڅ يو تور په هيڅ يو سره »

فضيلت او برتري نلري مګر په سبب د الهي تقواء .

## صدقه مال نه کموي اومعافي عزت زياتوي اوعاجزي انسان لوړه وي

الحديث :(٨٦)

وعن أبي هُريرة (رض) أَنَّ رسولَ اللَّه (ص) قال: «مَا »

نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ، وَمَا زَادَ اللَّهُ عَبْداً بِعَفْوٍ إِلاَّ

عِزّاً، وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ للَّهِ إِلاَّ رَفَعَهُ اللَّهُ لأ .

رواه مسلم 2588رقم الحديث) ج۴مخ٢٠٠١)

ژباړه : «له ابوهريره (رض) څخه روايت دی چي پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: « هيڅکله صدقه له مال څخه څه نه کموي او يقيناَ الله تعالى د خپل بنده د ګذشت په برابر کي د هغه عزت ورزياتوي او هر بنده چي د الله تعالى لپاره تواضع وکړي خداى تعالى (د هغه مقام) پورته کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الله تعالى لره اولاد ثابتول اوترمرګ ورسته ژوندنه منل کفردی

الحديث : (٨٧)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ (ص): «قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: يَشْتِمُنِي ابْنُ آدَمَ وَمَا يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَشْتِمَنِي وَيُكَذِّبُنِي وَمَا يَنْبَغِي لَهُ، أَمَّا شَتْمُهُ فَقَوْلُهُ: إِنَّ لِي وَلَدًا وَأَمَّا تَكْذِيبُهُ فَقَوْلُهُ: لَيْسَ يُعِيدُنِي كَمَا بَدَأَنِي .

(البخارى:3193)ج۴مخ۱۰۶)

ژباړه : له ابوهريره (رض) څخه روايت دی چي نبي‌اکرم (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل : «الله تعالی فرمايې: بني‌آدم ماته ښکنځل کوي حال داچي هغه (بنی آدم) ته دا نه ښايي چي ماته ښکنځل وکړي. همدارنګه بنی آدم ما تکذيبوي حال داچي هغه(بنی آدم) ته دا نه ښايي (چي زما خبري او زما صفات (تکذيب کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر ښکنځل يی دادي چي وايي الله تعالی اولاد لري ، او تکذيب يي دادی چي وايي : الله تعالی ما لکه لومړی پيدايښت بيا نه ژوندی کوي

ای زما پروردګاره ! ته واحد يي نه له چا پيدا يي او نه له تا څخه څوک پيدا دي ته واحد او لا شريک يي او موږ مومنان په والبعث بعدالموت بعد له مرګه ژوند باندي ټينګه عقيده لرو .

# تحية المسجد(جومات ته دننوتلو)پرمهال سنت دی که مکروه وخت نه وو

الحديث : (٨٨)

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ السَّلَمِيِّ (رض): أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ (ص) قَالَ: «إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ .

(البخاری:444)ج١مخ٩٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ابو قتاده سلمي (رض) وايي: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: «هرکله چي له تاسوڅخه کوم یو جومات ته ننوتی مخکي له دي چي کښیني دوه رکعته لمونځ دي ادا کړي .
یعنی : تحیة المسجد

## مرګ غوښتل ناجائز دی

الحديث : (٨٩)

عَنِ أَنَسٍ قَالَ: لَوْلا أَنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ: «لا تَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ» لَتَمَنَّيْتُ .

(صحیح بخاری/رقم الحدیث7233ج۹مخ۸۴)

انس بن مالک رضي اللّه عنه وايي: که مي نه واي اوريدلي چي نبی اکرمﷺ وفرمايل: د مرګ هيله مکوئ»، نو مابه د مرګ هيله کړي وای.

## دژوندڅخه مه ناهیلي کیږئ

الحديث : (٩٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضي اللّٰه عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «لا يَتَمَنَّى أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ، إِمَّا مُحْسِنًا فَلَعَلَّهُ يَزْدَادُ، وَإِمَّا مُسِيئا فَلَعَلَّهُ يَسْتَعْتِبُ .

(صحيح البخاری/رقم الحديث7235ج۹مخ۸۴)

ابوهريره رضی اللّه عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: «هيڅ يو له تاسو څخه د مرگ هيله مکوئ ځکه چي يابه نيک شخص وي چي که ژوندی پاتی شي په نيکيو به يي زياتوالی وشي او يا به بد عمله شخص وي چي که ژوندی پاتي شي شايد توبه وکړي .

## هغه بنده گان چي دالله(ج) په خاطر يي يو بل سره مينه کړي دعرش ترسيوري لاندي به وي

الحديث : (۹۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﴿رض﴾ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: أَيْنَ الْمُتَحَابُّونَ بِجَلاَلِي؟ الْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ فِي ظِلِّي، يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلاَّ ظِلِّي .

(مسلم/2566)ج۴مخ۱۹۸۸)

ژباړه : ابوهريره (رض) وايي: رسول الله ﴿صلی الله عليه وسلم﴾ وفرمايل : « د قيامت په ورځ الله تعالی فرمايي : چيرته دی زما هغه بنده ګان چي زما په خاطرېي يو بل سره مينه کړي؟

زه به نن هغوی ته تر خپل سيوري لاندي ځای ورکړم هغه ورځ چي کوم سيوری پرته زما له سيوري څخه شتون نلري .

## اساني دالله (ج)خوښه ده

الحديث : (۹۲)

عَنْ أَنَسٍ (رض) عَنِ النَّبِيِّ (ص) قَالَ: «يَسِّرُوا وَلا تُعَسِّرُوا وَبَشِّرُوا وَ لا تُنَفِّرُوا .

(بخاری:69)ج۱مخ۲۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : له انس (رض) څخه روایت دی چي نبي اکرم (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: د دین په امورو کي آساني اختیارکړئ او سختي مه نیسی ، زیری ورکړی او (خلک) مه بیزاره کوئ .

# خدمت انسان له اوره ژغوري

الحدیث : (۹۳)

عَنْ أَنَسٍ (رض) قَالَ: كَانَ غُلامٌ يَهُودِيٌّ يَخْدُمُ النَّبِيَّ (ﷺ) فَمَرِضَ، فَأَتَاهُ النَّبِيُّ (ص) يَعُودُهُ، فَقَعَدَ عِنْدَ رَأْسِهِ، فَقَالَ لَهُ: «أَسْلِمْ». فَنَظَرَ إِلَى أَبِيهِ وَهُوَ عِنْدَهُ، فَقَالَ لَهُ: أَطِعْ أَبَا الْقَاسِمِ، فَأَسْلَمَ، فَخَرَجَ النَّبِيُّ (ص) وَهُوَ يَقُولُ: «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنْقَذَهُ مِنَ النَّارِ .

(البخاری:1356)ج۲مخ۹۴)

ژباړه : انس (رض) وایي: نوی ځوان سوی یهودي چي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خدمت یې کوی، مریض سو .آنحضرت (صلی الله علیه وسلم) د هغه عیادت ته ورغی او د هغه په فرش کښیناست او هغه (یهودی) ته یې وفرمایل : مسلمان سه» هغه خپل پلارته چي په څنګ کی یې ناست وو وه یې کتل ..پلاریي وویل : له ابوالقاسم (محمد ص) څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اطاعت وکړه(یعني اسلام ومنه) نو هغه (یهودی) په اسلام مشرف شو

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) کله چي له کور څخه وتی ويي فرمايل ثنا د خدای (جل جلاله) يادوم چي هغه ته يي له دوزخ څخه نجات ورکړی .

# نیک اعمال دجنت زیری دی

الحديث : (۹۴)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ رَضِي اللَّه عَنْهمَا قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ (ص): «رَأَيْتُنِي دَخَلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا أَنَا بِالرُّمَيْصَاءِ امْرَأَةِ أَبِي طَلْحَةَ، وَسَمِعْتُ خَشَفَةً، فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ فَقَالَ: هَذَا بِلالٌ وَرَأَيْتُ قَصْرًا بِفِنَائِهِ جَارِيَةٌ، فَقُلْتُ: لِمَنْ هَذَا؟ فَقَالَ: لِعُمَرَ، فَأَرَدْتُ أَنْ أَدْخُلَهُ فَأَنْظُرَ إِلَيْهِ فَذَكَرْتُ غَيْرَتَكَ». فَقَالَ عُمَرُ: بِأَبِي وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللَّهِ أَعَلَيْكَ أَغَارُ؟

(صحيحُ البخارى: 3679 )ج۵مخ۱۰)

ژباړه: جابر بن عبدالله رضي الله عنهما وايي: نبي اکرم (صلی الله علیه وسلم) وفرمايل: « خوب مي وليدی چي په جنت کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخل شوم او هلته مې رُميصاء د ابو طلحه (رض) ميرمن وليدله و د پښو (قدمونو) ږغ مي واوريدی پوښتنه مي وکړه دا څوک دی؟

فرشتي) وويل: دا بلال دی ، او قصر مي وليدی چي په ) شاوخوا کي يي پيغله(حوره) ناسته وه پوښتنه مي وکړه دا قصر د چا دی؟

وويل سول : دا د عمر دی ، ومي غوښتل ورداخل سم اوهغه ووينم مګر ستا غيرت راپه ياد سو ، عمر وويل يا رسول الله (صلی الله عليه وسلم) زما پلار او مور دي له تاڅخه قربان شي آيا ستا په نظرهم غيرتمن راځم؟ .

# دمائيګراوسهارترلمانځه ورسته نفل کول منع دي

الحديث : (٩٥)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﴿رض﴾: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﴿ﷺ﴾ نَهَى عَنِ الصَّلاَةِ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ، وَعَنِ الصَّلاَةِ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ .

(مسلم/825)ج١مخ٥٦٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه :له ابوهريره "رض" څخه روايت دی رسول الله ﴿ﷺ﴾ د سهار لمانځه څخه وروسته تر لمر راختلو او د مازيګر له لمانځه وروسته تر لمر لويدلو له لمونځ کولو منع کړي يو

شرح: يعنی د سهار له لمانځه وروسته تر لمر راختلو لمونځ نسته او د مائيګر له لمانځه څخه وروسته تر لمر لويدلونفل لمونځ نسته قضايي لمونځ سجده تلاوت دجنازی لمونځ سته روادی.

# دمديني دوګړوسره دوکه بنه انجام نلري

الحديث : (٩٦)

عنْ سَعْدٍ (رض) قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ (ص) يَقُولُ: «لا يَكِيدُ أَهْلَ الْمَدِينَةِ أَحَدٌ إِلاَّ انْمَاعَ كَمَا يَنْمَاعُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ

.

(البخارى:1877)ج٣مخ٢١

ژباړه : سعد بن ابي وقاص (رض) وايي: له رسول الله (صلی الله عليه وسلم) څخه مي واوريدل چي فرمايل يي : هر څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د مدينه منوري له خلګو سره فريبکاري (چل او دوکه) وکړي له مينځه ځي لکه څنګه چي مالګه په اوبو کي له مينځه ځي .

## ترشيدو(يابل غوړشي) ترخوړلووروسته خوله پريولل سنت ده

الحديث : (٩٧)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ الله عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ (ص) شَرِبَ لَبَنًا، فَمَضْمَضَ وَقَالَ: «إِنَّ لَهُ دَسَمًا.

(بخارى:211)ج١ مخ٥٢)

ژباړه:ابن عباس رضي الله عنهما وايي: رسول الله (صلى الله عليه وسلم) شيدي وڅښلي. بيايي مضمضه وکړه(په خوله يي اوبه ورغړولي) او ويې فرمايل: شيدي (په خپل ترکيب کي) غوړ لري .

## دمازيګرلمونځ قضاکول بربادي ده

**الحديث : (٩٨)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ الله عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ (ﷺ) قَالَ: «الَّذِي تَفُوتُهُ صَلاةُ الْعَصْرِ كَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلُهُ وَمَالُهُ .

(الـبخارى:552)ج١مخ١١٥)

ژبـاړه: عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي: رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) وفرمايل: « د چاڅخه چي دعصر لمونځ قضاء سي داسي دی لکه اهل او مال چي يي له لاسه ورکړي وي .

# ابوبکرځکه اول خلیفه سو

الحديث : (٩٩)

عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ (رض) قَالَ: أَتَتِ امْرَأَةٌ النَّبِيَّ (صلى الله عليه وسلم)، فَأَمَرَهَا أَنْ تَرْجِعَ إِلَيْهِ، قَالَتْ: أَرَأَيْتَ إِنْ جِئْتُ وَلَمْ أَجِدْكَ؟ كَأَنَّهَا تَقُولُ الْمَوْتَ قَالَ (صلى الله عليه وسلم): «إِنْ لَمْ تَجِدِينِي فَأْتِي أَبَا بَكْرٍ .

(الـبخارى:3659)ج٥مخ٥)

ژبـاړه : جبیر بن مطعم (رضی الله تعالی عنهما) وايي: یوه ښځه د نبي اکرم (صلی الله علیه وسلم) حضور ته راغله او هغې ته يي امر وکړ بیاهم د هغه حضور ته راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ښځي وويل : كه بيا راسم او تاسو پيدا نكړم څه وكړم؟ د هغې ښځي مقصد دا وو كه چيرته تاسو وفات كړى وو چاته مراجعه وكړم؟

رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: كه دي زه پيدا نكړم د ابوبكر (رضى الله عنهما) حضور ته راسه .

# پرمړي ژړادمړي په ضررده

الـحديث (١٠٠)

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّه عَنْهَا قَالَتْ: مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ (صلى الله عليه وسلم) عَلَى يَهُودِيَّةٍ يَبْكِي عَلَيْهَا أَهْلُهَا،فَقَالَ: «إِنَّهُمْ لَيَبْكُونَ عَلَيْهَا وَإِنَّهَا لَتُعَذَّبُ فِي قَبْرِهَا .

(بخارى:1289)ج٢مخ٨٠)

ژباړه : عايشه رضي اللهعنهاوايي: رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ديوي يهودى ښځي د قبر له څنګ سره تير شو (د هغې يهودى ښځي) خپلوان په هغې پسي ژړل نو آنحضرت (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل : د دې ميت خپلوان ورپسي ژاړي حال داچي هغه خپله په قبر كښي عذاب ويني .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمسلمان عيب پټول دآخرت ذخيره ده

الحديث : (۱۰۱)

وعن أَبي هريرة (رض) عن النبي (صلى الله عليه وسلم) قال: لا يسْتُرُ عَبْدٌ عبْداً فِي الدُّنْيَا إِلاَّ سَتَرهُ اللَّه يَوْمَ الْقيامَةِ .

رواه مسلم رقم2590ج۴مخ۲۰۰۲)

له ابوهريره (رض) څخه روايت دی چي پيغمبر (صلى الله » عليه وسلم) وفرمايل: «هر بنده‌چي دبل بنده (عيبونه) په دنياکي وساتي (اوچاته ونه وايي) الله تعالى دهغه عيبونه په قيامت کی پټ( محفوظ) ساتي .

# دهر مست کوونکي توکي نشه‌حرامه ده

الحديث : (۱۰۲)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ (رض): اَنَّ رَسُول اللّهِ (صلى الله عليه وسلم) قَالَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ خَمْرٍ حَرَامٌ

(مسـلم/2003)ج۳مخ۱۵۸۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : ابن عمر (رض) وايي: رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: هر مست كوونكي توكي خمر محسوب كيږي او هر خمر حرام دى
مست كوونكي توكي : هغه كه اوبلن وي كه جامد(كلك) كه تور وي كه سپين په هر رنگ او هر كيفيت چي وي مطلقاً حرام دي .

# په هوسايۍ کې نفل کول غوره دي

الحديث : (١٠٣)
وعن أَنسٍ (رض) قال: دَخَلَ النَّبِيُّ (صلى الله عليه » وسلم) الْمسْجِدَ فَإِذَا حبْلٌ مَمْدُودٌ بَيْنَ السَّارِيَتَيْنِ فقالَ: «ما هَذَا الْحبْلُ؟ قالُوا، هَذا حبْلٌ لِزَيْنَب فَإِذَا فَتَرَتْ تَعَلَقَتْ بِهِ. فقال النَّبِيُّ (صلى الله عليه وسلم): «حُلّوهُ، لِيُصَلِّ أَحدُكُمْ نَشَاطَهُ، فَإِذا فَترَ فَلْيرْقُدْ .
متفقٌ عليه / (البخارى رقم6463ج٨مخ٩٨)
له انس (رض) څخه روايت دى ويل يي : پيغمبر (صلى الله » عليه وسلم) مسجد ته ننوتى ناڅاپه يي د دوو ستونونو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینځ یو کش سوی طناب( پړی) ولیدی نو وې فرمایل : دا د
څه شي طناب (پړی) دی؟
وویل شول : دا د زینب طناب دی کله چي په عبادت کي
سسته او ستړي سي وهغه ته ځنګ لګوي
پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: «طناب خلاص کړی او
تول یي کړئ ، هریو له تاسو څخه تر هغه وخته چي په نشاط
کي یاست لمونځ وکړئ او هره کله چي ستړی سي بیده دي سي .
اړوند مهم لغاتونه
طناب : موږ او تاسو په کورونو کی یو پړی له یو طرف څخه بل
طرف ته بندوو بیا مینځلي کالی وربانديي زړوو چي دلمر په
شعاع باندي وچ سي همدا طناب دی د پورته حدیث په
ژباړښت کي موږ طناب لیکلی مقصد مو هماغه پړی دی
ستونونه : یعني ستون (پایه) چي په مسجد کي یې د بام
تینګښت لپاره جوړوي .

## هرهغه مشروب چي نشه ولري حرام دی

الحدیث : (۱۰۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ عَائِشَةَ (رض)قَالَتْ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَنِ الْبِتْعِ؟ فَقَالَ رسول الله(صلى الله عليه وسلم): «كُلُّ شَرَابٍ أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ .

(مسلم/2001)ج۳مخ۱۵۸۵)

ژباړه : عايشه (رض) وايي: له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه د عسل (شراب) په اړه پوښتنه وسوه مبارک (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل : هر هغه شراب (څښاک) چي مستي او نشه راوړي حرام دی .

## الله تعالی زړه اوعمل ته ګوري

الحديث : (۱۰۵)

وَعَنْ أبي هُريْرة عَبْدِ الرَّحْمن بْنِ صخْرٍ ﴿رض﴾قال: قالَ رَسُولُ الله ﴿صلى الله عليه وسلم﴾: «إِنَّ الله لا يَنْظُرُ إِلى أَجْسامِكُم، وَلا إِلى صُوَرِكُمْ، وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعمالِكُمْ .

(رواه مسلم رقم 2564ج۴مخ۱۹۸۶)

له ابوهريره ﴿رض﴾ څخه روايت دی چي پيغمبر ﴿صلى الله عليه وسلم﴾وفرمايل : الله تعالی ستاسو اجسامو او ستاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



صورتونو ته نه ګوري بلکه ستاسو زړونو او ستاسو اعمالو ته ګوري .

# ښه اخلاق لوی عبادت دی اودښو اخلاقو ډیرحقداره خپله میرمن ده

الحديث : (١٠٦)

وعن أبي هريرة ﴿رض﴾قال: قال رسول اللَّه ﴿صلى الله عليه وسلم﴾: «أَكْمَلُ المُؤْمنين إِيمَاناً أَحْسنُهُمْ خُلُقاً، وَخِيارُكُمْ خيارُكم لِنِسَائِهِم .

رواه التِّرمذي وقال: حديثٌ حسنٌ صحيحٌ

رقم1162ج٢ مخ٤٥٧)

له ابوهریره (رض) څخه روایت دی چي پیغمبر ﴿صلى الله علیه وسلم﴾ وفرمایل: کاملترین مؤمن د ایمان له جهته د هغوی (مؤمنانو) خوش اخلاقترین دی او ستاسو بهترین هغه دی چي له خپلو میرمنو سره (نیک سلوک) بهترین چلند ولري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنیکی لاره ښول هم نیکي ده

الحديث : (۱۰۷)

وعن أَبِي مسعودٍ عُقبَةَ بْن عمْرٍو الأَنْصَارِيِّ (رض) قال: قال رسول اللَّه (صلى الله عليه وسلم): مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مثلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ

رواه مسلم ج۳مخ۱۵۰۶)(رقم الحديث1893

ژباړه : « له ابومسعود عقبه بن عمرو انصاری بدری (رض) څخه روايت دی چي رسول الله «صلی الله عليه وسلم» وفرمايل : « څوک چي خلک خير (کار) ته دعوت کړي ، نو هغه لره به د خير (کار) د فاعل (کوونکي) په شان اجر وي .

# مومن هغه دی چي دبل په غم دردمن وي

الحديث : (۱۰۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ أَنَس ﴿رض﴾ عن النبيِّ ﴿صلى الله عليه وسلم﴾ قال: لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ .

متفقٌ عليه /( المسلم رقم ۴۵ج۱مخ۶۷)

له انس (رض) څخه روايت دی چي نبی اكرم 《صلى الله عليه وسلم》 وفرمايل : هيڅ يو له تاسو څخه كامل ايمان نلري ترڅو هغه څه چي د ځان لپاره خوښوي خپل (مسلمان) ورور ته يې هم خوښ كړي .

## دانسان دزوكړي مخكي رزق اواجل اوعمل او سعادت يا هم د هغه شقاوت ليكل كيږي

الحديث : (۱۰۹)

عن ابنِ مسعودٍ (رض)، قال: حدثنا رسولُ اللَّه (صلى » الله عليه وسلم)، وهو الصَّادِقُ المصدوقُ: «إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ خَلْقُهُ في بَطْن أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْماً نُطْفَةً، ثُمَّ يَكُونُ عَلَقَةً مِثْلَ ذلِكَ، ثُمَّ يَكُونُ مُضْغَةً مثْلَ ذلِكَ، ثُمَّ يُرْسَلُ الْمَلَكُ، فَيَنْفُخُ فِيهِ الرُّوحَ، وَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعِ كَلِماتٍ: بِكَتْبِ رِزقِهِ، وَأَجلِهِ، وَعمَلِهِ، وَشَقيٌّ أَوْ سعِيدٌ. فوَ الَّذِي لا إِله

(c) ketabton.com: The Digital Library



غَيْرُهُ إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ الجَنَّةِ حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وبَيْنَهَا إِلاَّ ذِراعٌ، فَيَسْبقُ عَلَيْهِ الْكِتاب، فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْل النَّارِ، فَيَدْخُلُهَا، وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْملُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلاَّ ذِرَاعٌ، فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَا .

متفقٌ عليه /(مسلم رقم2643ج۴مخ۲۰۳۶)

له ابن‌مسعود﴿رض﴾څخه روایت دی چي ویل یي : رسول الله ﴿صلی الله علیه وسلم﴾ د تصدیق وړ پیغمبر وو موږ ته یي وفرمایل : ستاسو د هر یوه پیدایښت دغسي جمع او ترسره کیږي : څلویښت ورځي نطفه ده هغه وخت څلویښت ورځي علقه (تړل سوي وینه) تړل کیږي بیا په نورو څلویښتو ورځو کښي د مضغه ( لکه د غوښي ټوک) په شکل جوړیږي بیا فرښته رالیږل کیږي او په هغه کي روح دننه کوي چي څلور موارد : رزق او اجل او عمل او سعادت یا هم د هغه شقاوت ولیکي او سوګند په هغه چا چي پرته له هغه بل معبود نسته له تاسو څخه یو د اهل جنت د عملونو په رکم عمل کوي تر هغه اندازه پوري چي د هغه او جنت تر مینځ فاصله یواځي یوه ذراع (نیم متر) باقي وي ، مګر لومړی لیکنه (تقدیر) تر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکي کيږي همدغه وخت کښي هغه د دوزخيانو په شان عمل کوي او دوزخ ته داخليږي، او له تاسو څخه يو د اهل دوزخ د (عمل) په څير عمل کوي تر هغه ځايه پوري چي د هغه او دوزخ تر مينځ فاصله يوه ذراع پاتي کيږي مګر لومړی ليکنه تر هغه مخکښي سي او همدغه وخت کښي هغه د جنتيانو د عمل په څير عمل وکړي او جنت ته داخليږي .

# پرته له سخته ضرورت سوال اوګداګري ناروا ده

الحديث : (١١٠)

وعن ابن عمر ﴿رض﴾أَنَّ النبيَّ ﴿صلى الله عليه وسلم﴾ قال: «لاَ تَزَالُ المَسأَلَةُ بِأَحَدِكُمْ حَتى يَلْقى اللَّه تعالى ولَيْسَ في وَجْهِهِ مُزْعةُ لَحْمٍ .»

| متفقٌ عليه/ (مسلم رقم1040ج٢مخ٧٢٠)

ژباړه : له ابن‌عمر (رض) څخه روايت دی چي نبي اکرم (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل : ستاسو له کوم يوه د ګدا له حالت څخه نه زايله کيږي تر هغه وخته چي الله (جل جلاله) سره ليدنه کوي حال داچي د هغه (ګدا) په مخ يوه ټوټه غوښه هم نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرح : يعني هغه کسان چي پرته له عذره له خلکو څخه خيرات غواړي ياهم ګدايي کوي او دا کار يي عادت وي نو د قيامت په ورځ کله چي له الله تعالی سره ليدنه کوي په مخ (صورت) به يي هيڅ غوښه نه وي يعني هيڅ عزت به نلري .

# دخوړوپه سرکي که ييي هيره وي نوپه مابين کي ييي کومه دعاويل کيږي؟

الحديث : (١١١)

وعن أُميَّةَ بنِ مخْشِيٍّ الصَّحابيِّ (رض) قال: كان رسُولُ اللَّه ﴿صلى الله عليه وسلم﴾ جالساً، ورَجُلٌ يأْكُلُ، فَلَمْ يُسمِّ اللَّه حَتَّى لَمْ يبْقَ مِنْ طَعَامِهِ لُقْمةٌ، فَلَمَّا رَفَعها إِلى فِيهِ، قال: بسم اللَّهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ، فَضَحِكَ النَّبِيُّ ﴿صلى الله عليه وسلم﴾ ثم قال: مَا زَالَ الشَّيْطَانُ يَأْكُلُ مَعَهُ، فَلمَّا ذَكَر اسمَ اللَّهِ استْقَاءَ مَا في بَطنِهِ .

(رواه أبو داود رقم الحديث3768ج٣مخ٣٤٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبـاړه : له امیه بن مخشی صحابي (رض) څخه روایت دی چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ناست وو یوه سړي ډوډۍ خوړله او د الله(ج) نوم يي(د خوراک په پيل کي) یاد نه کړ تر دې چي یوه ګوله يي له ډوډۍ څخه پاتي سوه نو کله چي (هغه سړی) ګوله خولې ته پورته کړه ويې ویل :«بسم اللَّهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَه»

(په همدې حال کښي) رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وخندل او وروسته يې وفرمایل : شیطان (پرله پسي) مرتب له هغه سره ډوډۍ خوړله او کله چي هغه د الله نوم یاد کړ شیطان هغه څه چي يې په ګېډه (نس) کښي وه استفراغ يي کړل

پام مو وي : رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) هیڅکله په لوړ ږغ ندي خندلي تل به يې تبسم درلودی او په اوج د خندا کي يي يواځي مبارک غاښونه ښکاره سوي

هره شیبه درود په فخر موجودات نبی اکرم ﴿صلی الله علیه وسلم﴾ مه هیروئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپيني جامي اوسپين کفن سنت دی

الحديث : (١١٢)

وعن ابنِ عبَّاس (رض) أنَّ رسُولَ اللَّهِ (صلى الله عليه وسلم) قال: الْبَسُوا مِنْ ثِيَابِكُمُ البَيَاضَ، فَإِنَّهَا مِن خَيْرِ ثِيابِكُمْ، وَكَفِّنُوا فِيها مَوْتَاكُمْ .

(رواهُ أبو داود[(٣٨٧٨)] ج٤مخ٨)، والترمذي 994 وقال: حديث حسن صحيح

له ابن‌عباس (رض) څخه روايت دی چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل : خپله سپيني جامي واغوندئ ځکه چي هغه ستاسو بهترينه جامي دي او همدارنګه خپل مړي (هم) په هغه کښي کفن کړئ .

# په شپه کښي يوه شيبه (لحظه) شتون لري چي دعا پکښي قبليږي

الحديث : (١١٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ جَابِرٍ ﴿رض﴾ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﴿ص﴾ يَقُولُ: «إِنَّ فِي اللَّيْلِ لَسَاعَةً، لاَ يُوَافِقُهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللَّهَ خَيْرًا مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ إِلاَّ أَعْطَاهُ إِيَّاهُ، وَذَلِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ .

(مسلم/757رقم الحديث)ج١مخ٥٢١)

ژباړه : جابر ﴿رض﴾ وايي : وامي وريدل چي نبی اکرم ﴿ص﴾ وفرمايل : په شپه کښي يوه شيبه (لحظه) شتون لري که مسلمان پکښي هغه پيدا کړي او د دنيا او آخرت خير ( او نور شرعی عذرونه) له الله تعالی څخه وغواړي ، الله متعال هغه (خير او رحمت) و هغه ( بنده) ته عنايت کوي او همدا ( بهترينه شيبه) په هره شپه کښي شتون لري .

## ژوند ترمرګ ښه دی دنيکۍ موقعه پکښي ممکنه ده

**الحديث : (١١۴)**

عَن ابي هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ (صلى الله عليه وسلم) «لاَ يَتَمَنَّ أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ، وَلاَ يَدْعُ بِهِ مِنْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَهُ، إِنَّهُ إِذَا مَاتَ أَحَدُكُمُ انْقَطَعَ عَمَلُهُ، وَإِنَّهُ لاَ يَزِيدُ الْمُؤْمِنَ عُمْرُهُ إِلاَّ خَيْرًا

(مسلم/2682)ج۴مخ۲۰۶۵)

ژباړه : له ابو هريره (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﴿صلى الله عليه وسلم) وفرمايل:هيڅ يو له تاسو څخه د مرگ غوښتنه ونکړي او د (مرگ او اجل) راتللو مخکي د هغه درخواست ونکړي ځکه کله چي له تاسو څخه يو مړ کيږي عمل يي قطع کيږي او بايد پوه سي د مومن عمر و هغه ته صِرف د هغه د خير او نيکی زياتولو باعث کيږي

.

## قرابت پالنه رزق اوعمر زياتوي

الحديث : (۱۱۵)

وعن أَنسٍ ﴿رض﴾ أَن رسولَ اللَّه ﴿صلى الله عليه وسلم﴾ قال: «مَنْ أَحبَّ أَنْ يُبْسَطَ له في رِزقِهِ، ويُنْسأَ لَهُ في أَثرِهِ، فَلْيصِلْ رحِمهُ .

متفقٌ عليه / (مسلم رقم الحديث2557ج۴مخ۱۹۸۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : « له انس ﴿رض﴾ څخه روایت دی چي رسول الله ﴿صلی الله علیه وسلم﴾ وفرمایل : « هر څوک چي خوښوي چي روزي یې زیاته او له برکته ( ډکه وي) او په اجل کښې یې تاخیر واقع (شي) او عمر یې اوږد شي نو صله یې رحم دي (تل) ترسره کړي او د خپلوی پیوندونه دي وساتي
د پیوندونو ساتل په اسلامي طریقه یعني د خپلوانو سره منظمه پاکه رابطه ساتل .

# صفونه برابرول دشیطان ملاماتول دی

الحديث : (١١٦)

حدثنا مسلم بن إبراهيم، حدثنا أبان، عن قتادة، عن - أنس بن مالك، عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «رصوا صفوفكم وقاربوا بينها وحاذوا بالأعناق، فوالذي نفسي بيده إني لأرى الشيطان يدخل من خلل الصف كأنها الحذف

له انس بن مالک "رض" څخه روایت دی چي رسول الله "ﷺ" وفرمایل : خپل صفونه (په جماعت کي) ټینګ کړئ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاصلې ډکي کړئ او خپلی غاړې په يو اندازونيسئ قسم په هغه ذات چي زما نفس يي ( په بلاکيف) لاس کښي دی شيطان وينم چي د وري په شان د صفونو له خالي ځای څخه داخل کيږي

(ابوداؤد1ج/179مخ)رقم الحديث667رواه ابو داوود )

## قرآن مجيددتلاوت کوونکي شفاعت کوي

الحديث : (١١٧)

عَنْ أَبي أُمامَةَ "رض" قال: سمِعتُ رسولَ اللَّهِ (ﷺ) يقولُ: «اقْرَؤُا القُرْآنَ فإِنَّهُ يَأْتي يَوْم القيامةِ شَفِيعاً لأصْحابِهِ.

(رواه مسلم(رقم الحديث804ج١مخ٥٥٢)

له ابوامامه "رض" څخه روايت دی چي له پيغمبر (ﷺ) څخه مي واوريدل فرمايل يې: قرآن تلاوت کوئ ځکه چي قرآن، د قيامت په ورځ داسي حال کښي راځي چي خپلو يارانو ته شفاعت کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښه اخلاق لرونکی بهترین شخصیت دی

الحديث : (١١٨)

وعن عبد اللَّهِ بن عمرو بن العاص "رض" قال: لم يكن رسولُ اللَّه (ﷺ) فَاحِشاً ولا مُتَفَحِّشاً. وكانَ يَقُولُ: إِنَّ مِن خِيارِكُم أَحْسَنَكُم أَخْلاقاً .

متفقٌ عليه. (صحيح "مسلم" رقم الحديث 2321 ج۴ مخ۱۸۰۹)

ژباړه: «له عبدالله بن عمرو بن عاص 'رض' څخه روايت دی چي ويل يي : پيغمبر (ﷺ) بداخلاق او دشنام وركوونكی نه وو او فرمايل به يي: په تاسو كي افضل ، هغه دی چي اخلاق يي ښايسته وي .

# سنت اونفل لمونځ په كوركي افضل دی

الحديث : (١١٩)

"عَنْ زيدِ بنِ ثابتِ " (رض)

أَنَّ النَّبيَّ ﴿ﷺ﴾ قالَ: «صلُّوا أَيُّها النَّاسُ في بُيُوتِكُمْ، فَإِنَّ أفضلَ الصَّلاةِ صلاةُ المَرْءِ في بَيْتِهِ إلاَّ المكْتُوبَةَ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



متفقٌ عليه/( مسلم رقم الحديث781ج١مخ٥٣٩)

ژباړه: «له زيد بن ثابت "رض" روايت دی چي پيغمبر (ﷺ) وفرمايل: «ای خلکو
په خپل کورونو کي لمنځونه وکړئ ځکه چي بهترين لمونځ د هغه چا دی چي په کور کښي يې ادا کوي پرته له فرض لمنځونو

## بهتره زناني ځوک دي

الحديث : (١٢٠)

عَنْ عَلِيٍّ (رض) قال: سَمِعْتُ النَّبِيَّ (ﷺ) يَقُولُ: «خَيْرُ نِسَائِهَا مَرْيَمُ ابْنَةُ عِمْرَانَ، وَخَيْرُ نِسَائِهَا خَدِيجَةُ .

(بخاری:3432رقم الحديث)ج۴مخ۱۶۴)

ژباړه: علي بن ابي طالب (رض) روايت کوي وامي وريدل چي نبي اکرم (ﷺ) وفرمايل بهترينه ښځه په تير امت کی مريم د عمران لور ( د عيسی عليه السلام مور) او بهترينه ښځه زما د امت خديجه (بنت خويلد ) ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنيا دالله(ج) په درباركي قدرنلري

الحديث : (١٢١)

وعن سَهْلِ بنِ سَعْد السَّاعديِّ "رض" قال: قال رسول اللَّه ﴿ﷺ﴾: «لَوْ كَانَت الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللَّه جَنَاحَ بَعُوضَةٍ، مَا سَقَى كَافراً منْها شَرْبَةَ مَاءٍ .

رواه الترمذي وقال حديث حسن صحيح ( رقم

( الحديث ٢٣٢٠ ج٤ مخ١٣٧)

ژباړه: له سهل بن سعد ساعدي "رض" څخه روايت دی چي پيغمبر ﴿ﷺ﴾ وفرمايل: «که دنيا د الله ج په نزد کي د يوې غوماشي د کوثر (دغوماشی دوزر)په اندازه ارزښت درلودلی هيڅکله به يی هيڅ کافر ته ورڅخه يو غړب اوبه(هم) نه وای ورکړي .

## څوکـچي خپل سر تر امام څخه مخکي پورته کوي ودي ويريږي داسي نه چي سريې دخره سي

الـحديث (١٢٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library



عن أبي هُرَيْرَةَ (رض) عَنِ النَّبِيِّ (صلى الله عليه وسلم) قَالَ: «أَمَا يَخْشَى أَحَدُكُمْ أَوْ أَلا يَخْشَى أَحَدُكُمْ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ قَبْلَ الإِمَامِ، أَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ أَوْ يَجْعَلَ اللهُ صُوْرَتَهُ صُوْرَةَ حِمَارٍ .

(البخاری:691رقم الحدیث)ج۱مخ۱۴۰)

ژباړه : ابوهریره (رض) وایي: رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: څوک چي خپل سر تر امام څخه مخکي پورته کوي آیا نه ویریږي چي الله تعالی به یي سر د حِمار( د سر په څیر) او یاهم صورت (مخ) یي د حِمار د مخ (صورت) په څیر تبدیل (او تغیر) کړي .

الحمدلله تم تخریجه باذن الله عزوجل

ساعة العاشرة صباحاًسنة۱۴۴۱هق آخر رجب المرجب عام کرونا اللهم احفظنامنه.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library